New Life
Programme

# کلیسا

# کلیسا

لیکونکی: دانلددین سمیتھ

*ICI University*
P.O.Box 25749
1311 Nicosia, CYPRUS

# کلیسا

اول چاپ : ۲۰۰۰

**Pashto "Church" 2000**

Church

*By: DONALD DEAN SMEETON*

*ICI University*

P.O.Box 25749

1311 Nicosia, CYPRUS

# فهرست

| صفحه | عنوان |
| --- | --- |


| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| لومړی لوست | ۱ |
| دویم لوست | ۲۱ |
| دریم لوست | ۴۲ |
| پنځم لوست | ۸۴ |
| شپږم لوست | ۱۰۲ |
| اوم لوست | ۱۱۹ |
| اتم لوست | ۱۳۸ |

# لومړی لوست

## د خدای نقشه د کلیسا لپاره

په هغه وخت کې عیسی وویل: "زه به خپل جماعت په دې ګټ آبادوم، او مرګ به په دې هیڅ کله غالبیدی نهٔ شی" (متی ۱۲ : ۱۸). دا یوه ښائسته او عالي وعده ده. دا آیات د کلیسا په هکله څو مهمی نقطې مونږ ته ښکاره کوی. دا نقطې عبارت دي:

۱- د مسیح پوری اړه لرونکې جماعت، "خپل جماعت"

۲- مسیح د خپلې کلیسا لپاره نقشه لری، "آبادوم"

۳- د مسیح کلیسا به هیڅ کله ماتې ونه خوری او له منځه به لاړه نشی، "مرګ به په دې هیڅ کله غالبیدی نه شی."

خدای د ازل نه د دنیا لپاره د کلیسا نقشه درلوده چې د ټولو خلکو څخه پټه وه. داسې نقشه لکه څنګه چې اوس وینو نو راتلونکی وخت هم په کې شاملیږی. خدای لوی شیان زمونږ لپاره تیار کړیدي. که څه هم چې تر اوسه د مشکلاتو سره لاس او ګریوان یو نو د دې

سره سره کولای شو چې پوره باور سره راتلونکی ته وګورو.

**هغه څه چې تاسو به یې په دې لوست کې ولولۍ.**

**د کلیسا پیل او پیدایښت**

**د کلیسا د جلال څخه ډکه راتلونکی**

**د کلیسا اوسنی حالت**

**د کلیسا هدف**

**د کلیسا تکلیف زغمل**

**دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو چې.**

- **دا تشریح کړی چې په حقیقت کې خدای د کلیسا نقشه د کومې زمانی څخه پیل کړې وه.**
- **د مسیح نقشه د خدای په نقشې کې د کلیسا په هکله روښانه کړی.**
- **د خدای ابدی تقشې ته د اوسنیو مسئلو او ستونزو سره ارتباط ورکړۍ.**

# کلیسا پیل او پیدا ایښت

کلیسا د کومه راغله؟ امکان لری هغه ځای کې چې ژوند کوئ کلیسا موجوده وي او یا د ډیر پخوا زمانی نه منځ ته راغلې وي او یا امکان لري چې د هغې له جوړښت څخه لږه موده تیره شوې وي. امکان لري چې چا به ستاسو په ځای کې د انجیل تبلیغ کړی وي او یا ممکنه ده چې څوک د کوم بل ځای څخه راغلی وي، د مسیح په هکله یې تاسو سره خبرې کړې وي. مخکې له دې چې تاسو دلته راشئ او حتی مخکښې له دې چې څوک په انجیل باندې وپوهیږي نو خدای داسې نقشه طرحه کړې وه. د خدای نقشه او پلان ستاسو د پیدا ایښت سره پیل شوی نه ده. او د دې نقشې او پلان شروع حتی د مسیح د مرګ او مصلوب کیدلو په وخت کې هم نه وه پیل شوی. د خدای نقشه مخکښې له دې چې دا نړې او کائنات منځ ته راوړی پیل شوی وه. پولوس په دې هکله د افسیانو کلیسا ته وفرمایل:

"ځکه چې هغۀ مونږ په خپلې مینې کې د دنیا د پیدا ایښت نه مخکې په مسیح کې غوره کړلو چې مونږ

د هغهٔ په نزد پاک او بې عیبه شو. او هغه د خپلې مرضئ د نیکې ارادې په مطابق مونږ د ځان د پاره مقرر کړلو چې د عیسی مسیح په وسیله د هغهٔ بچی شو" (افسیان ۱: ۴- ۵).

پس له معینی زمانی څخه مسیح راغی (ګلتیان ۴: ۴) او د خدای په هکله ئې د حقایقو تعلیم ورکړ او ډیر معجزی یې وښودلې. انسانانو د هغه د قبلولو نه ډډه وکړه. هغه یې په سولۍ کړلو خو خدای هغه بیا را ژوندی کړلو. مسیح خپل خدمت د یهودیانو په مینځ کې پیل کړلو. ډیرو یهودیانو هغه ونه منلو مګر خدای خپلې نقشی ته دوام ورکړلو. پولوس د دې امر څرنګوالی د افسیانو کلیسا ته داسې بیانوي:

" چې هغه په تیرو شوو زمانو کې بنی آدمو ته دغه شان معلوم شوی نه وو څنګه چې هغه یې پاکو رسولانو او نبیانو ته د روح القدس په وسیله اوس ښکاره کړی دی. او هغه راز د دی چې د زیري په وسیله غیر یهودیان د یهودیانو سره د خدای په میراث کې

برخه ولري، او په يو بدن کې شامل، او د خدای په هغه لوظ کې شریک شي چې هغه د مسیح عیسی په وسیله وکړو" (افسیانو ۳: ۵- ۶).

په دې اساس کلیسا عبارت ده له ټولو هغه کسانو نه چې په مسیح ایمان لري که څه هم چې د هر ملت څخه وي. د انجیل په وسیله هغوی اوس د کلیسا یوه برخه دي.

ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

د دې هرې برخې سوالونه او تمرینونه تاسو سره مرسته کوي تر څو چې هر هغه څه چې مو زده کړي وی تکرار کړئ او یا ورڅخه کار واخلئ.

۱- په لاندې جملو کې کومې صحیح دي:

الف) د خدای نقشه د مسیح د مرګ څخه وروسته پیل شوه.

ب) د خدای نقشه د انسانانو د پیدایښت سره سم پیل شوه.

ج) خدای د ازل څخه خپله نقشه د کلیسا په هکله عملی کوله.

۲- افسیان ۳: ۵- ۷ بیا ولولئ او لاندې سوالونو ته جواب ورکړئ:

الف) خدای خپله نقشه څنګه ښکاره کړه؟

________________________________

________________________________

ب) د خدای نقشه څه وه؟ ________________

________________________________

________________________________

________________________________

خپل جوابونه د هغه جوابونو سره مقایسه کړې کوم چې د درس په آخر کې ورکړي شوي دي.

## د کلیسا د جلال نه ډکه راتلونکې

خدای خپله نقشه د عیسی مسیح په وسیله طرحه کوله. د مسیح رد کیدل د خلکو په وسیله د خدای د کار خنډ نه شو. د مسیح مرګ هم د دې سبب نه شو چې خدای له دې کار نه لاس واخلی.

خدای د راتلونکې په باره کې هم نقشه لري! خدای به په خپل وخت، خپله هره نقشه سر ته ورسوی. هغه ماتې نه ده خوړلې او نه به یې وخوري. مقدس کتاب د هغه شیانو په هکله چې خدای د خپلې کلیسا لپاره ذخیره کړی دي او غواړی چې مونږ سره د هغوی په هکله خبرې کوي. د مثال په توګه د دې نه مخکې چې مسیح د مرګ په خوله کې پریوځی نو داسې دعا ئې وکړه:

" ای پلاره! دا خلق چې تا ما له راکړی دي زه غواړم چې دوی دې زما سره وی چیرته چې زه یم، چې

دوی زما جلالووینی کوم چې تا ما له راکړي دي ځکه چې تا د ازل نه ما سره مینه کړې ده" (یوحنا **۱۷ : ۲۴**).

یوه ورځ به خدای دې دعا ته جواب ورکړی. په هغه ورځ به کلیسا د مسیح سره وی او مونږ به د هغه جلال ووینو. هیڅوک پوره نه پوهیږي چې آسمان به څنګه ځای وي، ولې هغه څه چې ښکاره دي هغه دا چې د مسیح سره یو ځای اوسیدل ډیر عالي دي!

مقدس کتاب مونږ ته وایي چې دا امر به څنګه واقع کیږي. عیسی به بیا د خپلې کلیسا لپاره ځمکې ته راشي. پولوس د دې پیښې په هکله د تسالونیکیانو کلیسا ته داسې وویل:

" ځکه چې مالک به په خپله د آسمان نه د چغې، او د مقربې فرښتې د آواز، او د خدای د بګل د آواز سره راکوزیږي، او اول به هغه څوک چې په مسیح کې مړه شوی دي راژوندی شي. او بیا به مونږ څوک چې ژوندي پاتی یو، د هغوی سره په وریځو کې پورته کړی شو د دې لپاره چې په هوا کې د مالک استقبال

وکړو، او دغه شان به د مالک سره تل تر تله اوسو" (اول تسالونيکيان ۴: ۱۲- ۱۷).

مونږ نه پوهيږو چې دا پيښنه به کله سر ته رسيږي. امکان لري چې ډير ژر سرته ورسيږي. خداى په خپله د دې پيښې په ټاکلى وخت پوهيږي.

ستاسو کار

هغه څه چې بايد تاسو يې سرته ورسوئ

۳- لاندې جملې په مناسبو کليمو سره تکميلې کړئ:

الف) څرنګ چې خداى په تيرو وختونو کې خپله نقشه عملى کړه، نو په دې اساس کولاى شو د ____________________ په هکله هم په ده ايمان ولرو.

ب) يو له مهمو او اعلى ځيزونو څخه په آسمان کې دا دى چې مونږ به ______________ يو ځاى يو.

ج) کله چې مسیح د خپلې کلیسا لپاره راځي نو__________ غږ به وي.

د) هغه ټول ایمانداران چې مړه او یا ژوندي دي یو بل به له ___________________ سره ووینی.

۴- په یوحنا ۱۷: ۲۴ مسیح په خپله دعا کې وغوښتل چې:

الف) خدای دې مونږ سره ډیر مینه ولري.

ب) مونږ دې د هغه سره په آسمان کې یو.

ج) خدای دې کلیسا هغه ته ورکړي.

۵- مکاشفه ۲۲: ۵ ولولۍ او د دې خبرې جواب ورکړي چې په آسمان کې به څوک د پادشاه په حیثیت حکم کوي؟

الف) فرښتی

ب) خدای او زوی یې

ج) کلیسا او که ایمان لرونکي

۲- دا خبره تشریح کړۍ چې د خدای راتلونکې نقشه د کلیسا په هکله څه ده؟

________________________________________

________________________________________

خپل جوابونه د صحیح جوابونو سره مقایسه کړۍ.

## د کلیسا اوسنی حالت

کلیسا ډیره اعلی او شانداره ماضی او هم د جلال او عظمت څخه ډکه راتلونکې لري، مګر په هر صورت اوس باید د مځکې پر مخ ژوند وکړی. مونږ په ابدیت کې ژوند نه کوو، نه په ماضی او نه په راتلونکې زمانه کې بلکه مونږ په حال کې ژوند کوو. دا حقیقت کوم چې مونږ اوس مطالعه کړلو څنګه کولای شی چې مونږ سره مرسته وکړي؟

## د کلیسا هدف

په راتلونکو پاڼو کې به د کلیسا د دندو په جزئیاتو باندې خبرې وکړو خو راځۍ چې اوس د کلیسا د ځینو

هدفونو سره آشنائي پیدا کړو. د پولوس افسیانو ته په خط کې داسې لولو:

" په ما چې زه په ټولو پاکانو کې له ورکوټي نه ورکوټی یم، دا فضل وشو چې زه غیر یهودیانو ته د مسیح د بې اندازې دولت زیرې ورکړم، او په ټولو دا خبره ښکاره کړم چې هغه راز چې له ازل نه د ټولو څیزونو په پیدا کوونکي خدای کې پټ وو، هغه به څنګه څرګند کړي، چې اوس د جماعت په وسیله د خدای قسم قسم حکمت هغه حاکمانو او د واک خاوندانو ته معلوم شي څوک چې په آسمان کې دي" (افسیان ۳: ۸- ۱۰).

په دې ځای کې د عالم ملکوت لغت د روحاني منازعاتو د ځای په مفهوم او د قدرتونو او حکمرانانو لغت د شریر ارواح په معنی دی چې د دې سبب کیږي چې انسان بیا شرارت ته لاس واچوي. پولوس وایي چې د خدای هدف د کلیسا په هکله دا دی چې په دې دنیا کې د شریر ارواح ته ماتې ورکړي، او هغه له منځه یوسي. د دریم لوست پاتې برخې ته پام وکړئ. مقدس

کتاب وايي نو لکه څنګه چې د کليسا مقصد شرير يعنې شيطان ته ماتې ورکول دي نو په دې شان مونږ کولای شو چې په زړورتيا سره د خدای په حضور کې په دعا ودريږو (افسيان ۳: ۱۱- ۱۳). نو همدارنګه بيا مونږ د خدای په قدرت سره مضبوط او زړور ودريږو (افسيان ۳: ۱۴- ۱۶). مونږ بايد يو بل سره په مينه او محبت کې اوسو (افسيان ۳: ۱۷ -۱۹).

مونږ کولای شو چې د کليسا ټول مقصدونه د دې باب په آخر کې پيدا کړو.

"اوس چې څوک داسې قادر دی چې د هغه قدرت په مطابق چې په مونږ کې اثر کوی، زمونږ د خواست او خيال نه ډير زيات کار کولای شي، هغۀ ته دې په جماعت کې او په عيسی مسيح کې تل تر تله، پيړۍ په پيړۍ جلال وی!" آمين. (افسيان ۳: ۲۰- ۲۱)

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۷- د افسیانو دریم باب یو ځل بیا ولولئ او د کلیسا دوه مقصدونه په ګوته کړئ.

۸- ۱۰ آیتونه ______________________________

______________________________________________

۲۰- ۲۱ آیتونه ______________________________

______________________________________________

## د کلیسا رنځونه

ځینې وخت مسیحیان د خپل ایمان په سبب چې په مسیح باندې یې لري، رنځ او تکلیفونهویني. ځینی وخت کلیسا زیان مومي نو په دې خاطر چې تاسو مسیحي یاستئ کیدای شي چې تاسو سره بد سلوک او بده رویه هم وشي. ځینې وخت خلک تکلیف مومي او یا یې څوک درک کولای نشي او ډیر ځلې داسې هم کیږي په دې خاطر چې په څه باندې ایمان لري د هغه په وجه درسره جنګیږي. داسې حالاتو ته جفا وایي.

دا ډول درد درک کول ډیر ګران دی. ځینې وخت امکان لري چې تاسو پوښتنه وکړۍ چې: " که چیرې خدای دومره لوی شیان زما لپاره پیدا کړي نو بیا اوس ولی دومره په زحمت او عذاب کې یم؟"

د داسې پوښتنی جواب څه آسان کار نه دی. راځۍ چې وګورو چې مقدس کتاب په دې هکله څه وایي او په هغه باندې لږ غور وکړو:

۱- ځینې د دې زحمتونو څخه طبعې دي که هغه څوک مسیحی وي یا غیر مسیحي دا زحمتونه وینې. پولوس ځوان تیموتیوس ته داسې وویل: "بلکه هر څوک چې د مسیح عیسی په یووالي کې په دینداري ژوند تیرول غواړي، هغوی ټول به وربړولي شي" (۲ تیموتیوس ۳: ۱۲). مګر خبره دا ډیره په زړه پورې ده چې په دې وپوهیږو چې کله مونږ د تکلیف سره مخامخ کیږو خدای زمونږ مل دی او مونږ ته قدرت او قوت رابخښي.

۲- د رنځ زغمل یو امتیاز دی. مونږ په دې پوهیږو چې د مسیح په خاطر به په زحمت او تکلیف کې شو

ځکه خدای د هغه خلکو لپاره چې د مسیح د پاره په تکلیف کې کیږي خاص اجر ورکوي. پولوس د فیلپیي کلیسا ته داسې وویل: "ځکه چې د مسیح د خاطره په تاسو دا فضل وشو چې نه یوائې په هغه ایمان راوړئ بلکه د هغه د خاطره تکلیفونه هم وزغمئ. او تاسو هم هغه شان ښه خواری کوئ څنګه چې مو زه د هغې په کولو لیدلی وم او اوس هم اورئ چې زه هم هغه شان کوم" (فیلپیان ۱: ۲۹-۳۰).

۳- رنځ او زحمت موقتی دی. رنځ د تل لپاره دوام نه کوی. پولوس د روم کلیسا ته لیکی: "زما په خیال کې د دې وخت دا تکلیفونه چې مونږ ئې زغمو د هغه جلال سره هیڅ مطابقت نه لري کوم چې په مونږ باندې ظاهریدونکی دی" (رومیان ۸: ۱۸).

۴- زمونږ د زحمتونو اجر به مونږ ته راکړل شي. مونږ کولای شو چې د رنځ او عذاب په وختونو کې خپل راتلونکي ژوند، خوا ته وګورو او د مځکې او آسمان په خوا او شا باندې فکر وکړو. خدای به مونږ ته اجر راکړي. مقدس کتاب وایي: "که مونږ سختئ

وزغمو د نو د هغه سره به بادشاهي هم کوو، که مونږ هغه رد کړو نو هغه به مونږ هم در کړی" (دویم تیموتیوس ۲: ۱۲). خدای زمونږ ټول کارونه په یاد ساتي. همدارنګه په څو ځله د دې خبرې شاهدان یو چې خدای د کلیسا لپاره ستر شیان پیدا او طرح کړي دي. مونږ کولای شو چې د لویې راتلونکې یوه برخه اوسو. ولی اوس باید وفادار پاتې شو حتیٰ د ستونزو په وخت کې هم. امکان لري تاسو ووایې چې پلار مې په دې خاطر چې مسیحی یم د خپله ځانه لری کړی یم. دا کار ډیر دردونکی دی، خو ولې دا یو طبیعې رنځ دی. تاسو ویلای شئ چې خدای په بدل کې ما ته ډیر روحاني پلارونه راکړي دي. کله چې مسیح خپلې کلیسا ته راشي دا درد او نور داسې ډیر دردونه به له منځه ولاړ شي.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۸- د خدای د ابدي نقسې سره سره، کلیسا ولې بیا د ظلم او ستم ښکار کیږي؟

________________________________________

________________________________________

### خپل جوابونه مقایسه کړئ

د لومړی لوست د ختمولو په مناسبت تاسو ته مبارکی وایو. تاسو لومړی لوست پای ته ورساوه. مونږ په څو ورځو کې د پیدایښت د شروع څخه په آسمان کې تر ابدی ژوند پورې درسونه ولوستل.

### خپل جوابونه مقایسه کړئ.

۸- ستاسو په جوابونو کې باید دا نقطې شاملې وي. د مسیح په خاطر رنځ او زحمت تیرول افتخار دی. غواړو چې اوس تکلیف او زحمت تیر کړو ځکه چې وروسته به اجر ومومو.

۱- ج) خدای د پیدایښت د پیل نه خپله نقشه د کلیسا په هکله سر ته رسوله.

۷- الف) شریر ته ماتې ورکول

ب) خدای ته جلال ورکول

۲- الف) د روح القدس په واسطه د انبیاؤ او شاګردانو له لاری.

ب) د انجیل په وسیله په یو بدن کې د یهودی او غیر یهودی متحد کول نو دواړه کولای شی چې د عیسی مسیح له لاری د خدای له برکتونو څخه ګټه واخلی.

۲- مسیح د خپلې کلیسا او (د خپلو ایماندارانو) لپاره به بیا راشي او تر ابده پوری کلیسا به د هغه سره وی او د هغه د حکم لاندې به وی.

۳- الف) راتلونکی

ب) مالک عیسی مسیح

ج) (هر یو له دوی څخه) په آواز، د فرښتو په آواز او د خدای په بګل

د ) مالک

۵- ج) کلیسا د ایماندارانو سره

۴- ب) مونږ به هغه سره په آسمان کې یو.

## دویم لوست

# د کلیسا تاریخ

مونږ په لومړي لوست کې کلیسا د پیدا ښېت او ابدیت له مخې مطالعه کړه. د کلیسا نقشه خدای جوړه کړه. خدای په خپل مقرر شوي او صحیح وخت کې، خپله نقشه ښکاره کړه، او سربیره پر ټولو مشکلاتو، مونږ اوس هم شاهدان یو چې خدای په خپله کلیسا کې کار کوي او یوه ورځ به د کلیسا په هکله خپله نقشه پای ته ورسوی. مسیح مځکې ته بیا راځي او کلیسا به له ځان سره اخلي تر څو د تل لپاره په آسمان کې د هغه سره وي.

مونږ اوس کلیسا د خپل دنیایی نظره مطالعه کوو. کله چې عیسی وفرمایل: " زه به خپله کلیسا جوړه کړم." د هغه مقصد د مځکې پر مخ وو. په دې لوست کې به د هغه واقعاتو ته لنډه کتنه وکړو کوم چې د پنطکاست نه تر اوسه پورې واقع شوي دي.

مونږ کولای شو ډیر شیان له تاریخ نه زده کړو. د کلیسا د ترقئ او د پر مختیا ځرنګوالي ډیر په زړه پوري دی. خو لکه ځنګه چې به وګورو د دې مودې په ترځ کې ډیرو تکلیفونو وجود درلود. دا تکلیفونه مونږ ته ډیر څه رازده کوي. د کلیسا تاریخ ما ته ډیر په زړه پوري وو او باور لرم چې تاسو ته به هم په زړه پورې وي.

هغه څه چې تاسو به یې به په دې لوست کې ولولۍ

کلیسا زیږیږي

کلیسا رسمیت پیدا کوي

کلیسا زیانویني

کلیسا اصلاح کیږي

کلیسا ویښیږي

دا لوست به له تاسو سره مرسته وکړي تر څو چې

- د کلیسا د تاریخ سره آشنا شئ.
- د کلیسا د تکلیفونو وجه تاسو ته ښکاره شي.
- په کلیسا کې یو څو تنظیم کوونکی طریقی تعریف او تشریح کړئ.

## کلیسا زیږیږی

د یهودیانو د رخصتیو له جملې څخه یوه لویه رخصتي د پنطیکاست وه چې د فصلونو د محصولاتو اخستلو په وخت کې شروع کیدله. ډیر خلک به ورته د لرې لرې ځایونو څخه راتلل تر څو په بیت المقدس کې د یو څو ورځو لپاره پاتی شی. بلکل هغه شان کله چې د مسیح د بیرته راژوندی کیدلو نه وروسته په لومړنی پنطیکاست کې د هغه مریدان په بیت المقدس کې راټول شول، یوه خاصه پیښه را منځ ته شوه. د دې په ځای چې زه ووایم، تاسو پخپله کولای شي چې دا واقعات په لاندې تمرینونو کې پیدا کړئ.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱- اعمال ۲ : ۱-۵ ولولئ او لاندې سوالونه ته جواب ورکړئ.

الف) دا پیښه کله وشوه؟ ________________

ب) هغه دوه عجیب شیان چې په هغه کوټه کې واقع شول څه وه؟ ________________

________________________________

ج) په شاګردانو باندې څۀ تیر شو؟ ________

۲- د خلکو عکس العمل څه وو؟ (اعمال ۲ : ۱۳)

________________________________

۳- پوهیږو چې پطروس د ګناه او د ګناه په هکله د خدای د عکس العمل او د عیسی مسیح په هکله وعظ وکړ. تاسو اوس دا ووایي چې پطروس د دې لپاره چې د خلکو رابطه د خدای سره صحیح وي هغوی ته ئې څه وویل؟ (اعمال ۲ : ۳۸) ________

---

---

۴- د هغو جملو په مقابل کې چې مونږ ته دا وايي چې لمړنیو ایماندارانو به څه کول یوه نښه کیږدي (اعمال ۲ : ۴۲).

الف) هغوی د شاګردانو تعلیم ته غوږ ونیولو.

ب) د یو بل سره ئې دعا وکړه.

ج) په خپلو کې ئې شراکت درلود.

د) یو بل سره ئې بحث کاوه.

ه) د یو بل سره ئې ډوډۍ وخوړله.

## خپل جوابونه مقایسه کړۍ

کلیسا په ډیره عجیبه طریقه سره پیل شوه. نوی ایمانداران ډیر زیات وه (اعمال ۲ : ۴۱) او کلیسا ورځ په ورځ ترقی کوله. او غتیدله (۴۷ آیات). مګر ډیر زر مشکلات او تکلیفونه پیل شو. د خدای دښمنانو د

هغه د کلیسا سره په جنګ پیل وکړ. د اعمالو کتاب ځینې دا تکلیفونه بیانوي. (۴: ۲۳، ۵: ۱۷- ۱۸).

خلکو د ایماندارانو په خلاف دروغ جوړ کړل. د هغوی څخه ځینو د خدای د کلام یوه برخه واوریدله ولی هغه ئې تحریف کړه. د روم حکومت د مسیحیانو د ګروپونو په هکله ښه نظر نه درلود او مسیحیان د ټولنې ټیټې درجې خلکو څخه حسابیدل. د لمړنیو ایماندارانو څخه ځینو تکلیفونه ولیدل، ډیر وعذابیدل او ځینې په شهادت ورسیدل. ولې حقیقت هیڅکله نه مري او نه له منځه ځي.

ایمانداران ئې په زور او جبر له خپلو کورونو څخه وشړل او هغوی په زور سره بین النهرین، مصر، لیبیا او حتې روم ته چې پایتخت وو ولاړل مسیحان چې هر چیری لاړل د هغه کارونو په هکله ئې شهادت ورکړ کوم چې خدای سر ته رسولې وۀ، او په ډیرو ځایونو کې د ایماندارانو نور ډلې جوړې شوې.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو يې سر ته ورسوئ

**۵**- نقشې ته وګورئ هغه نخښې چې د نقشې په مخ دي مونږ ته دا راښايي چې لمړنی ايمانداران څنګه په ټولو علاقو کې خواره شول او له ستونزو سره سره نور څه په کليسا راغلل؟ ____________

_______________________________________

## کليسا رسميت پيدا کوی

مونږ ته د اعمالو د کتاب لويه برخه دا وايي چې د انجيل زيری څنګه خپور شو. دا کتاب د پولوس او پطروس د خدمتونو او کارونو په هکله مونږ ته خبرې کوي. د انجيل ډير کتابونه هغه خطونه دي چې پولوس نوؤ کليساګانو ته وليکل. لنډه دا چې د روم په امپراطوری کې ډيرو خلکو په عيسی ايمان راوړی تر دې چې د دوی له جملی څخه ځينې د روم امپراطوران هم وو. امپراطور کنستانتين (تقريباً د مسيح د ميلاد څخه ۳۰۰ کاله وروسته) مسيحيت د يو رسمي مذهب

په صفت اعلان کړ. په همدې دلیل سره ډیر خلک په کلیسا کې داخل شول حتی تر دې چې ځینو په کې خدای هم نه پیژندلو. بې له دې نه چې د مسیحیت په حقیقت باندې پوه شي هغوی په کلیسا کې شاملیدل بلکل داسې ګڼل لکه څوک چې د لوبو په یو کلب کې شامل شي. دا کار د ګډوډۍ باعث شو، ځکه چې حقیقي کلیسا د هغه خلکو څخه جوړیږي چې په خپله ئې مسیح قبول کړی وي.

د دې ټولو کړ کیچونو سره سره د مسیح واقعی او حقیقی کلیسا په دې ټولو وختونو کې وجود درلود چې وفادارو ایماندارانو څخه جوړه شوی وه او په چټکتیا یې وده کوله. د دې ودې او پراختیا سره د رهبری ضرورت پیدا شو. احساس کیده. خلکو وکولای شول چې په ښه ډول له یو بل سره کار وکړی. ځینې کونډو مرستو ته اړتیا لرله د هغوی د مرستو لپاره نیک کسان او خادمان انتخاب شول. (اعمال ۶: ۱-۴) کلیسا نورو شیانو ته هم اړتیا لرله. د شریرو خلکو او هغو کسانو چې د دروغو تبلیغات ئې د دوی په هکله کول د محافظت او ځان ساتنی ضرورت درلود. باید

چې د کوچنیو کلیساګانو سره د لویو کلیساګانو لخوا مرسته وشي. هغوی د یو ښه رهبر د رهبری لپاره ضرورت درلود تر څو وکولای شي چې د یو بل سره په یووالی او په شریکه کار وکړي.

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۲- د جملې د ټولو نه د ښه تکمیلونکي جواب تر خوا یوه

ننبه کیږدي: کلیسا رهبرئ ته احتیاج درلود:

الف) د دې لپاره چې امپراطور مسیحی شوی ؤ.

ب) تر څو وکولای شي ښه مرسته او محافظت وکړي او یووالي منځ ته راولي.

ج) تر څو رسمیت پیدا کړي.

## کلیسا زیان ویني

د وخت د تیریدو سره امپراطورانو او مسیحی حاکمانو ډیر زیار وکښلو چې د کلیسا کنترول په خپل لاس کې واخلي په دې ترتیب کلیسا د سیاسي مسئلو یوه برخه وشمیرل شوه. د کلیسا رهبران چې په اسقف په نوم یادیدل هڅه وکړه چې په لویو ښارونو کې د قدرت طلبئ اعمال سر ته ورسوي. ډیرو خلکو هم د کلیسا د موجودیت اصلي هدف هیر کړ.

د مسیح د میلاد څخه وروسته د **۵۰۰** کلونو په شا او خوا کې روم له منځه ولاړ. په ۱۰۰۰ میلادي کال کې هغه مسیحیان چې په شرق کې اوسیدل د غرب له مسیحیانو سره هیڅ اړیکې نه لرلی.

ډیرو مسیحیانو د دې لپاره چې د هغې ګناه نه خلاصون ومومي چې کومې د داخل او د خارج څخه کلیسا ګرفتار کړی وه خپل ځان ئې ترې ګوښه کړ او کلیسا ئې پریښوده. هغوی دنیا او هغه مسیحیان چې ایمان ئې ضعیف وو ځانونه جدا کړل او صومعې ته

لاړل چې جګ دیوالونه ئې درلودل کومو چې هغوی د بهر دنیا نه جدا کول.

آیا دا ښه کار دی چې مسیحیان په یوه صومعه کې ژوند وکړي؟ دې سوال ته جواب ورکول ډیر ګران کار دی. دې کار هم مثبت او هم منفي اړخونه درلودل. کله کله به دا ځایونه د تعلیم او تربیت مرکزونه وو. د دې ځای خلک لمړني کسان وو چې په نوؤ ځایونو کې به ئې د انجیل د تعلیم ورکولو مسئولیت په خپله غاړه اخیستئ. د همدې کسانو په مرسته په **۵۰۰** میلادي کال کې انجیل اروپا او په ۷۰۰ میلادي کال کې انګلستان ۱۰۰۰ میلادي کال اسکاندینویا ته لار پیدا کړه.

د دې ټولو ښیګڼو سره سره ځینې نیمګړ تیاوې موجودې وې. د صومعې لوړو دیوالونو د هغې اوسیدونکي د محیط د خلکو او د هغوی له اړتیاوو نه جدا کول نو په همدې وجه هغوی نشو کولای چې د دنیا د اوسیدونکو سره مرسته وکړي. نو هر کله به هغه نارینه او ښځې چې د صومعې دننه اوسیدل خپل روح

ته به ئې د نورو خلکو د روح په نسبت ډیر اهمیت ورکاوه او په دې کار سره به هغوی مغروره کیدل او بیا به نوموړی صومعه د گناه په کور بدله شوه، دیوالونو هم نشو کولای چې د گناه مخ نیوی وکړي.

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۷- د لاندې جوابونو څخه د هغې جواب تر مخی " چې کلیسا ولې د تکلیفونو سره مخ شوه" ښه جواب ورکړئ او تر څنګ ئې یوه نښه وکړئ.

الف) په دې دلیل چې کلیسا ډیره وده کړی وه.

ب) په دې دلیل چې خلک په ډیرې آرامې سره کلیسا ته تلل.

ج) کلیسا دا خبره هیره کړه چې د خلکو خدمت او ضرورتونو لپاره منځ ته راغلې ده.

د) د مسیحیانو د گناه گارانو سره شراکت درلودل خوښیدل.

## کليسا اصلاح کيږي

د وخت په تيريدو سره کليسا د ډيرو زياتو ګناهونو ښکار شوه. د دروغجنو دودونو او تعليماتو د روح القدس د آزادی ځای ونيو. دروغجن مذهبي خلک ډير لږ بدل شوی وو او د دوی د ژوند دغه لږ بدلون هم خلکو ته دوکه ورکوله. هغوی ته د کليسا په تنظيم کې کار کولو له خدای نه د ويريدلو څخه ډير اهميت پيدا کړ. هغه کسانو سره له دې چې د اوبو بپتسمه اخيستې وه او خپل ځانونه ئې مسيحيان ګڼل خو لکه د کافرو او بې خدايه خلکو په شان ئې ژوند تيراوه. هغه وخت چې د خدای څخه ويريدونکو وغوښتل چې د کليسا حالت د مقدس کتاب په معيار بدل کړي، هغوی ته ئې د ملحد خطاب وکړ او د کليسا څخه ئې وويستل. هر کله چې به روحاني نهضت شروع کيده رهبرانو به نهضت له منځه وړلو.

### په تعليماتو کې بدلون

مګر ۱۵۰۰ ميلادی کال په لمړيو وختونو کې روحاني بدلونونه شروع شول. دا بدلون د هغه شخص په وسيله

شروع شول چې په صومعه یعنی په (ځانګړه عبادت خانه) کې اوسیده. د هغه نوم مارتین لوتر ؤ. هغه ډیر کوشش کړي ؤ تر څو خدای پیدا کړي. هغه د کلیسا نه تابعداري کړې وه او خپل ځان ئې د دنیا څخه جدا کړي ؤ، روژی یې نیولی او خپل بدن ته ئې نقصان هم رسولو خو بیا هم ئې ونشو کولای چې خدای پیدا کړي. د څو کالو تیریدلو نه وروسته یې د مقدس کتاب په مطالعه پیل وکړ او په هغه وخت کې ئې خپل جواب وموند. "د چا چې د ایمان په وسیله د خدای سره رښتینې رشته قائمه وی، هغه به ژوندی پاتې شي" (رومیان ۱: ۱۷). د ایمان په وسیله د مارتین لوتر د خدای سره رښتینې رشته قائمه وه. او د هغه پیروان ئې د پروټستانیانو په نامه وبلل. هغوی خپل تعلیم په دې ویلو سره چې "یواځې مقدس کتاب، یواځې ایمان، یواځې فیض" تشریح کاوه. د هغوی د مقدس کتاب څخه مقصد دا ؤ چې یواځې دې د مقدس کتاب څخه. " یواځې د ایمان" څخه مقصد دا ؤ چې هغوی غوښتل چې خلکو ته ورزده کړي چې یواځې په ایمان سره د هغوی رابطه د خدای سره سمیږی. ځکه چې انسان د

خدای رضا د حاصلولو لپاره نشو کولای چې کوم کار وکړي. یواځې د "برکت" ویلو هغوی غوښتل چې خلک پوه کړي چې هغه کارونه چې مسیح د صلیب پرمخ وکړ د هغوی ګناهونه ئې وبخښل او صحیح رابطه ئې جوړه کړي ده. او د خدای څخه د ګناهونو د پاکولو لپاره هم دومره بس دي چې ایمان ولري او بس:

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۸- د ویښتیا ضرورت ولی احساس کیدلو؟ ______

____________________________________

۹- هغه درې ښوونې چې مارتین لوتر ور کولای څه وې؟ ______________________________

په تشکیلاتو کې بدلون

د لوتر مقصد د مقدس کتاب ښوونو ته رجوع وه او هم دا شان هغه غوښتل چې د انجیل تعلیماتو او ښوونو ته عملي بڼه ورکړي. د دروغو ښوونې یې پریښودې او

مجسمې ئې د کلیسا څخه لیرې کړې. د صومعې اوسیدونکی ښځې او نارینه ئې له صومعی نه بهر کړل تر څو د نړی خلکو ته خدمت وکړی. پروټستانو هر هغه رفتار او کردار چې د مقدس کتاب سره یی سمون نه درلود رد کړل. خو د ختیځ د کلیسا لارښوونکو دا حرکت رد کړ. مګر لوتر وویل " مونږ باید د مقدس کتاب څخه پیروي وکړو نه له انسان څخه."

پروټستانو ډیر زر د دې خبرې احساس وکړ چې باید خپل ځان د وخت د حالاتو لپاره چمتو کړي، ځکه هر ملک خپله یوه خاصه لاره غوره کړې وه. ځینو پروټستانو غوښتل چې هغه نظام چې دوی ورسره آشنائې درلوده د هم هغې څخه پیروي وکړي. هغوی د یو قدرتمند او قوی لارښود غوښتونکې وو چې د خوا او شا د لار ښوونکو دندې مشخصی کړي. دا د مرکزي او قدرت لرونکو تشکیلاتو د نمونو څخه دي.

په سوئیس کې پروټستانټ د جان کالوین تر لار ښوونی وو د تشکیلاتو یو بل شکل پراختیا وموندله. په سوئیس کې آزاد انتخاباتو رواج درلود. نو هغه

کلیساګانې چې د کالوین د نظر لاندې وی هغه اجازه ورکړه چې خلک په خپله د کلیسا ګانو رهبران وټاکې نو په همدې اساس خلکو خپل ملې او سیمه ایز رهبران وټاکل. دې کار محلې رهبرۍ ته ډیره ګټه او قدرت وبخښلو.

د اروپا په نورو برخو کې د هدایاتو ورکولو یو بل شکل وده ومونده. د دې ځایونو خلکو غوښتل چې باید د سیمه ایزو ایماندارانو نه بغیر بل قدرت نه وي. هغوی نه ملی رهبر غوښتلو او نه هم خپلو حاکمانو سره شخړه د تنظیم دې شکل هری ټولنې ته زیات قدرت وباښه.

هر یوې ډلې کوشش وکړ چې د خپل نظام تائید د پاره له مقدس کتاب څخه خاصه نمونه پیدا کړي. او هرې یوې ډلې داسې نمونې او مثالونه هم پیدا کړل!

نوی عهد مونږ ته په واضح ډول نه وائې چې د کلیسا تشکیلات باید څنګه وی. تشکیلاتی نهضت باید د خلکو ضرورتونه پوره کړي. که چیري یو مسیحي په کوم دلیل یو خاص قسم سازمان یا

تشکیلات غواړی او فکر کوي چې روحاني شخص دئ نو اشتباه کوي. دا ستونزه د کورنتیانو په کلیسا کې هم وه. (اول کورنتیان ۱: ۲۱) مګر کورنتیان په دې خبره وپوهیدل چې په کلیسا کې له ټولو نه مهم کار مینه او محبت او یووالی دی.

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱۰- په لاندې جملو کې صحیح جمله په ګوته کړئ:

الف) د کلیسا وده او پراختیا سازمان ورکولو پورې اړه لري.

ب) د ښو تشکیلاتو زیات قسمونه موجود دي.

ج) تنظیم او سازمان باید د خلکو اړتیاوی پوره کړي.

د) یووالي او محبت د تشکیلاتو له څرنګوالي نه زیات اهمیت لري.

۱۱- آيا نوې عهد د کليسايې حکومت کوم شکل رازده کوی؟ ___________________________

_______________________________________

وګورئ چې کوم ډول کليسائی تشکيلاتی ستاسو په سيمه کې وجود لري؟ که چيری وې، نو وګوری چې آيا دغه کليسائی تشکيلات د خلکو احتياجات پوره کوی؟ نو بيا تاسو خپل ځان د هغوی سره يو کړئ او هغوی په خپلو کارونو او خدمتونو کې تقويه او تشويق کړئ.

د کليسا ويښيدل

د مارټن لوتر د وخت نه په کليسا کې نوې ويښتيا منځ ته راغله. خدای نوې نهضتونه پيدا کړل ترڅو چې هغه حقيقتونه او تعليمونه چې تر اوسه پورې د مقدس کلام څخه نه دي ورکړي شوي، تدريس کړي. که چيرې د دغو نهضتونو په هکله په تفسيري ډول خبرې وکړو نو په سلهاوو پاڼې به شي نو ستاسو په اجازه له هغې جملې نه يواځی دوه نهضتونه انتخابوم.

## انجیلي نهضت

کله چې د کلیسا تکلیفونه او مشکلات ورځ په ورځ زیاتیدل او اخلاق ئې مخ په ښکته روان وو نو خدای یو کس غوره کړو تر څو دا وضعه سمه کړي، دا سړئ (جان ویسلي) نومیده. په انګلستان کې هغه وخت ډیرو خلکو خپل ځان مسیحي ګڼلو. او هغوی کلیسا ته هم تلل خو ریښتیني مسیحیان نه وو. جان ویسلي به خلکو ته وعظ کولو چې هغوی باید خدای به خپله وپیژني. هر کله چې به هغه د وعظ د پاره ځای پیدا نه کړو نو په آزاده فضا کې به ئې وعظ کولو. هغه د انجیل زیري د هرې طبقې خلکو ته ورسولو. ټول ملک کې په آس باندې وګرځیدلو، او د زیري ورکولو نه ئې زیات کار وکړ هغه کتابونه ولیکل او مدرسې ئې جوړې کړې، او محتاجو سره ئې مرسته وکړه. هغه په ټول ملک کې یو لوي روحاني بدلون رامنځ ته کړو. او پس له هغې نه د جرمونو اندازه کمه شوه د شرابو څښلو عادت په ډیرو ځایونو کې له منځ ولاړ او د

کورنیو چاپیریال تښتیا وموندہ، او د طلاق پیښې مخ په کمیدو شوې.

ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ**

۱۲- ولیکئ چې د ویسلی په وخت کې کلیسا ویښتیا ته ولې ضرورت درلود؟ ____________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

د خپلې سیمې د روحانی اړتیاوو په هکله فکر وکړئ. آیا ستاسو کلیسا ویښتیا ته ضرورت لري؟ دعا وکړئ چې خدای یو مسیحي د جان ویسلي په شان ستاسو په منځ کې پیدا کړي او ستاسو د کلیسا د بیدارۍ سبب شي.

## د پنطیکاست نهضت

په نولسمه پیړۍ کې کلیسا ډیر خلک د انجیل د موعظې د پاره ولیږل. هغه زیري ور کووونکي چې د امریکا نه راغلي وو هغوی په آفریقا، آسیا او جزیرو کې ډیرې نوې کلیساګانې جوړې کړلې.

د شلمې پیړۍ په شروع کې خدای خپل روح په کلیسا نازل کړو او دا کار د نړۍ په ډیرو کلیساګانو کې په یو شان سر ته ورسید. ډیرو مسیحیانو هغه څه تجربه کړل کوم چې د مسیح شاګردانو د پنطیکاست په ورځ آزمایلی وو. هغوی د روح نعمتونه او د شهادت ورکولو قدرت لاس ته راوړ. دا نهضت په پینطیکاستی نهضت مشهور شو او تر نن ورځې پورې په ټوله نړۍ کې خپاره شوي دي. ۱۹۵۰ کال څخه را پدې خوا دا تجربه په ډیرو ایماندارانو کې منځ ته راغلې ده. زه باور لرم چې دا نهضت به د کلیسا سره مرسته وکړي تر څو خپل ځانونه د مسیح د راتلو لپاره تیار کړي.

ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ**

**۱۳- د پنطیکاستی نهضت روحاني تجربه څه ده؟**

________________________________________

________________________________________

هیله لرم چې د کلیسا دې لنډ تاریخ تاسو سره مرسته کړې وي. کله کله د کلیسا تاریخ خوشالونکی نه وی. کله کله کلیسا داسې کارونه تر سره کړی چې د خدای د جلال سبب نه دي شوي. مونږ باید له تیرو وختونو څخه زده کړه وکړو او هماغه تیروتنی تکرار نکړو. مونږ باید د مسیحیانو نورو ډلو ته احترام ولرو. د کلیساګانو سازمان ښایی یو بل سره توپیر ولري، خو مونږ ټول مسیح پورې اړه لرو.

مسیحیانو ته نه یوائی تاریخ راتلونکې لار روښانه کوی، همدا شان یی مقدس کتاب لارښودنه کوی په راتلونکی لوست کې به هغه خبری وګورو چې مقدس کتاب یې کلیسا په هکله کوي. خو مخکې تر دې چې راتلونکی لوست پیل کړو اجازه راکړی دعا

وکړو چې خدای دې مونږ په خپله کلیسا خپله سیمه کې په کار واچوی.

## خپل جوابونه مقایسه کړی

۱۳- د روح القدس نه معموریدل.

۱- الف) د پنطیکاست په ورځ.

ب) د هوا په شان آوازونه او د اور په شان ژبې منځ ته راغلې.

ج) د روح القدس نه معمور شول او په نورو ژبو ویلو ئې شروع وکړه.

۱۲- ځکه چې د کلیسا زیات غړی ریښتینې ایمانداران نه وو اخلاقي حالت مخ په ښکته روان او فیق او فساد ډیر شوي وو.

۲- ځینو به ډیرو ایماندارانو پورې ټوقې کولې.

۱۱- مقدس کتاب دا په ګوته کوي چې د کلیسا د اداري سیستم یو بل سره توپیر لري.

۳- چې د ګناه نه لاس واخلي او بپتسمه واخلي.

۱۰- ټولي جملې سمې دي.

۴- الف) د مريدانو تعليم به ئې اوريدلو.

ب) د يو بل سره ئې دعا وکړله.

ج) د يو بل سره ئې يووالی درلود.

ه) د يو بل سره ئې ډوډۍ وخوړله.

۹- يواځې ايمان. يواځې مقدس کتاب يواځې فضل.

۵- دوه يې وکړه.

۸- ځکه چې په تعليم او عمل کې ډيرې غلطۍ موجودې وې.

۲- ب) تر څو وکولای شي چې ښه مرسته ورته ورسوي او ساتنه ئې وکړي او يو موټۍ يی کړي.

۷- کليسا دا خبره هيره کړه چې د خلکو د خدمت او د هغوی د اړتياوو د پوره کولو د پاره منځ ته راغلې ده.

درېم لوست

# کلیسا څه ته وائی؟

عیسی وویل: " زه به خپله کلیسا آبادوم" (متی ۱۶: ۱۸) د کلیسا له کلمې څخه د هغه هدف څه وو؟ د دې کلمې نه شاګرادنو څه زده کړل؟ شاید چې تاسو به هم پام کړي وي چې د دې کتاب په ډېرو ځایونو کې د کلیسا لغت په مختلفو طریقو سره استعمال شویدی. په اول لوست کې مونږ د کلیسا لغت "د خدای د قوم" په معنی استعمال کړو. په دویم لوست کې مونږ د یوه ښکاره او د لیدلو وړ سازمان په معنی استعمال کړو. دغه دواړه مفهومونه صحیح دي.

مونږ په خپل ورځني ژوند کې ډیر ځله د مقدس کتاب نه کلمې استعمالوو. کله چې داسې کلمې استعمالوو نو باید چې له مقدس کتاب سره سم د هغوی په معنی هم وپوهیږو. د هرې یو کلمې معنی په یوې موضوع پوری اړه لري چې دا کلمه په کې استعمالیږي. نو ډیره مهمه ده پوهیږو چې د کلیسا کلمه په مقدس کتاب کې څه معنی لري؟

په دې لوست کې به د مقدس کتاب نه یو څو آیتونه مطالعه کړو او د هغې نه به کار واخلو. په تیر شوی لوست کې مو دې خبرې ته اشاره ونکړو چې ډیر خلک د دې لپاره چې مونږ ته مقدس کتاب راورسوی د خپل ژوند څخه تیر شوی دي. په هغه ځای کې چې زه ژوند کوم په یوه منطقه کې د تیرې یوه نخښه ایښودل شوی ده چې هلته یو سړي خپل ژوند په کې له لاسه ورکړی وو. د هغه ګناه دا وه غوښتل ئې چې انجیل په خپلې مورنې ژبه ترجمه کړي. مالک خدای د خپل کلام نه ساتنه کړیده. راځئ چې په شریکه دا کلام ولولو.

هغه څه چې تاسو به یې په دې لوست کې ولولئ

د کلیسا د کلمې معنی

د کلیسا طبیعت او ماهیت

د کلیسا اړیکې

دا لوست به له تاسو سره مرسته وکړی تر څو چې

- په هغه معنی پوه شئ چې مقدس کتاب کلیسا په هکله استعمال کړیده.
- یوه سیمه ایزه ټولنه، نړیوالې کلیسا سره وتړی.
- د کلیسا د طبیعت څخه لوړ ماهیت تشریح کړی.

## د کلیسا د کلمې معنی

یوناني ژبه د نوې عهد د نړۍ ژبه ده. پولوس رسول خپل ټول خطونه کلیساګانو ته په یوناني ژبه ولیکل. د کلیسا د کلمې معنی او مقصد په هغه وخت کې څه وو؟ په هغه وخت کې کلیسا د ټولنې په مفهوم وه. د پولوس په زمانه کې د کلیسا کلمه د دوه کلمو څخه جوړ شوی وه چې د دوی معنی خپل ځان ته رابلل وو. د مقدس کتاب په زمانه کې دا کلمه د ښاریانو هغې غونډی ته ویل کیده چې د ځینو سیاسی یا نظامی مسئلو په باره کې به یې خبری کولې او دا کلمه به هغو عسکرو ته چې د جنګ د پاره به راټول شوي وو په همدې ډول د هغو کسانو په هکله استعمالیده چې د

قانون جوړولو دنده یې درلوده اوس دا لغت زیاتره د مذهبی کارونو په هکله استعمالیږی. خو په هغه وخت کې د کلیسا کلمه هیڅکله د یوې مذهبې غونډی لپاره نه استعمالیدله.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۱- د اعمالو په ۱۹: ۲۳- ۴۱ کې د افسیانو له کلیسا نه د پولوس د کتنې څرنګوالي ولولی. د جماعت لفظ په ۳۲، ۳۹، ۴۱ آیتونو کې راغلی دی. دغه ټولنه کوم ډول غونډه وه؟ نور لفظونو چې د کلیسا او ټولنې په ځای په دې آیتونو کې راغلي دي ولیکی.

الف) ۳۲ آیت ___________________________

___________________________________

ب) ۳۹ آیت ___________________________

___________________________________

ج) ۴۱ آیت ______________________________

______________________________________

۲- په دې لاندې تعریفونو کې په یوناني ژبه کې کوم یو لغت جمعیت یا د مجلس څخه عبارت نه دي.

الف) سیاسي ټولنه

ب) هغه پوځ چې رابلل شوی دی

ج) یوه مذهبي غونډه

د) د ښاریانو غونډه

لکه څنګه چې تاسي پوهیږي مقدس کتاب په دوه برخو ویشل شوی دئ زوړ عهد او نوې عهد په زاړه عهد کې یهودیانو ته د خدای د قوم خطاب شوی دی. ډیرو یهودیانو لکه ابراهیم او داؤد په خدای ایمان راوړو او د هغه پیروي ئې وکړه. د هغوی د ژوند کیسه په زاړه عهد کې لیکل شوي ده. مونږ د هغوی د ژوند نه ډیر څه زده کوو.

د مسیح په زمانه کې ډیر یهودیان د مالک خدای نه لري شوي وو او هغه نه ئې اطاعت نه کولو او

کلام یې نه لوستلو. د دغه خلکو د مرستې د پاره د زاړه عهد یو خاصه ترجمه منځ ته راغله. د کلیسا یا جماعت کلمه په دغه ترجمه کې د سلو ځلو په شا او خوا کې استعمال شویده. په ځینو ځایونو کې دا کلمه د غیر مذهبې ټولنو په هکله هم استعمال شویدی. خو ډیر ځله په دې ترجمه کې د مذهبی ټولنو د پاره استعمال شوی دی. د کله نه چې مسیحیانو د کلیسا لغت استعمال کړ نو یهودیانو نور دا لغت استعمال نه کړلو. د مسیحیانو ټولنه یوه کلیسا وه او د یهودیانو ټولنه کنیسه وبللې شوه. هغه یهودیانو چې به په مسیح ایمان راوړ هغه به ئې کنیسې نه شړل (یوحنا ۹: ۲۲) ولولئ.

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۳- د کلیسا لغت چې د یهودیانو په وسیله استعمالیدلو څه معنی ئې درلوده؟

الف) مذهبې ټولنه

ب) غیر مذهبي ټولنه

ج) هم مذهبي ټولنه او هم غیر مذهبي ټولنه

۴- د دې کلمې (کلیسا) مثال کولای شو چې په اعمالو ۷: ۳۸ کې پیدا کړو. ستیفانوس یهودې کله چې په مسیح ایمان راوړو دا لغت ئې استعمال کړلو. په ټولنه (کلیسا) او په دشته کې څوک موجود وو؟ اعمال ۷: ۳۸ ولولۍ او بیا جواب ورکړۍ.

---

د کلیسا کلمه کولای شو چې په نوې عهد کې د سلو ځلو نه ډیر پیدا کړو. دا لغت تقریباً په هر کتاب کې پیدا کولای شو. هر کله چې مسیحیانو خپل جمعیت ته کلیسا یا د ټولنې نوم ورکړو د هغوي هدف سیاسي یا نظامي نه وو. د هغوی هدف او مقصد د هغه خلکو نه وو چې خدای رابللې وو. د هغوی هدف د هغې جمیعیت څخه وو چې په مسیح باندې د ایمان راوړلو په وسیله ئې خلاصون موندلی وو. په دې کتاب کې به په دې هکله ډیر تشریحات ورکړو.

## ستاسو کار

### هغه څه چې بايد تاسو يې سر ته ورسوئ

**۵**- د مسيحيانو هدف د کليسا د کلمه څخه څه دی؟

_______________________________________

_______________________________________

## د کليسا طبيعت او ماهيت

د کليسا کلمه هغه ټولو کسانو سيمه ايزی غونډې ته ويل کيږی چې په مسيح باندې ايمان لري. په نوې عهد کې ډير ځلی د کليسا لفظ يوې خاصې کليسا ته استعمال شويدی. د مثال په ډول د پولوس رسول خطونو ته رجوع وکړو چې هغه وايي.: "د پولوس سلام د تسالونيکيانو کليسا ته" (تسالونيکيان د يو ښار نوم دی. اول تسالونيکيان ۱ : ۱ ). په ځنې وختونو کې مقدس کتاب دا لغت د څو ټولنو او يا جميعتونو د پاره چې په يو ځای کې وو استعمال کړي دي. د مثال په توګه د يهوديه د جماعتونو د پاره (ګلتيان ۱ : ۲۲).

په ډیرو ځایونو کې دا د کلیسا کلمه د لویو مفاهیمو د پاره استعمال شوي ده. لکه د نړیوالې کلیسا. د دا رنګه کلیسا څخه مفهوم یوه کوچنۍ ټولنه او یا غونډه نه ده بلکه هدف ئې د هغو ټولو ایماندارانو څخه دی کوم چې د دې ټولنې پورې اړه لري. هر کله چې په ایماندارانو باندې سختی راغله او د ظلم او ستم لاندې شو نو دوی مختلفو ځایونو ته خواره شول نو په هغه وخت کې دوی د کلیسا یوه برخه وه. په متی ۱۲ : ۱۸ کې مسیح د نړیوالې کلیسا او د هغې د جوړیدو په باره کې خبرې کوی، یعنی هغه کلیسا چې په حقیقت کې د مسیح د بدن څخه عبارت دئ چې په ټوله نړۍ کې خواره شوي دي.

نو سره د دې وینو چې کلیسا د یو نژاد د خلکو څخه نه جوړیږي بلکه د هغه په جوړولو کې ټول قومونه برخه اخلي. کلیسا یواځې د یو ملت خلک نه دي. د ټولو قومونو خلک کلیسا جوړوي په ګلتیانو ۳ : ۲۸ کې داسې لولو:

"نهٔ خو څوک په تاسو کې اوس یهودي دی او نهٔ غیر یهودی، نهٔ څوک غلام دی او نه آزاد، نهٔ څوک سړی دی او نه ښځه، ځکه چې تاسو ټول د مسیح عیسیٰ په یووالي کې یو یئ."

ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ**

۲- لاندې آیتونه ولولئ او ووایي چې آیا دا آیتونه د سیمه ایزو ټولنو په هکله ویل شوی او که د نړیوالې کلیسا په هکله؟

الف) اول کورنتیان ۴: ۱۷ ______________

______________________________________

ب) دویم تسالونیکیان ۱: ۱ ______________

______________________________________

ج) کولوسیان ۱: ۱۸ ___________________

______________________________________

د) افسیان ۳: ۸-۱۰ ______________________

______________________________________

ه) افسیان ۳ : ۲۰-۲۱ ____________________

______________________________________

و) دویم کورنتیان ۱۱: ۸ __________________

______________________________________

۷- سیمه ایزه ټولنه څنګه د نړیوالې کلیسا پورې ارتباط پیدا کوي؟

______________________________________

______________________________________

## د کلیسا اړیکې

لکه څنګه چې مو ولوستل په زوړ عهد کې د کلیسا کلمه مذهبې لفظ نه وه. نو ایماندارانو څنګه کلیسا ته اشاره کوله؟

لومړنیو مسیحیانو کلیسا ته د خپل ځان څخه نوم ورکړی وو (ا کلیسا) چې د جمیعت او یا د خدای د قوم څخه عبارت دئ. خلک د خدای په وسیله رابلل

شوي وو. دا قوم د خدای ټولنه یا جمیعت وو. پولوس د تسالونیکیانو کلیسا ته داسي ولیکل: "د تسالونیکیانو د جماعت په نوم چې د خدای پلار او د مالک عیسی دی، فضل او سلامتی دې تاسو ته حاصله وی." (اول تسالونیکیان ۱: ۱). او هم دا رنګه ئې د کورنتیانو کلیسا ته ولیکل: " د خدای د هغه جماعت په نوم چې په کورنتوس کې دئ، یعنی د هغوی په نوم چې په مسیح عیسی کې پاک کړی شوي او بللی شوي پاکان دي، او د هغو ټولو په نوم هم چې په هر ځای کې د هغوی او زمونږ د مالک عیسی مسیح په نوم عبادت کوي (اول کورنتیان ۱: ۲).

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوې

۸- لاندې آیتونه مونږ ته وایي چې کلیسا د چا پورې اړه لري. لاندې آیتونه ولولې او کومې کلیساګاني چې په دوی کې پیدا کیږي هغه تشریح کړې.

الف) دویم تسالونیکیان ۱ : ۱ ___________

_______________________________________

ب) ګلتیان ۱ : ۱۳ ______________________

_______________________________________

ج) اول کورنتین ۱۱ : ۱۲ _______________

_______________________________________

کلیسا د خدای له خوا هدایت کیږی او مسیح پورې اړه لري. پولوس د کورنتس کلیسا ته ولیکل: "خدای رښتونې دی چا چې تاسو د خپل زوی، زمونږ د مالک عیسی مسیح د شراکت د پاره رابللی یئ" (اول کورنتیان ۱ : ۹). په هغه وخت کې کلیسا، "د مسیح کلیسا" په نوم یادیدله (رومیان ۱۲ : ۱۲) مطالعه کړه. عیسی وویل: "زهٔ خپله کلیسا جوړوم" (متی ۱۲ : ۱۸). پولوس وایي چې مسیح په خپله د کلیسا خلاصوونکی دی (افسیان ۵ : ۲۳). او بیا هغه وایي: "مسیح د جماعت سره مینه کړی ده او خپل ځان ئې د هغه د پاره مرګ ته سپارلی دئ" (افسیان ۵ : ۲۵).

ځرنګه چې ایمانداران په " مسیح" کې د مسیح په نوم یادیږي. مسیحیان د مسیح سره مړهٔ شول (رومیان ٦: ٦). لکه څنګه چې مونږ په مسیح کې یو، نو د هغه په زحمتونو کې شریک یو. (رومیان ۸: ۱۷ او دویم تیموتیوس ۲: ۱۲).

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

۹- رومیان ۸: ۱۷ او دویم تیموتیوس ۲: ۱۲ بیا ولولۍ. هغه خلکو ته چې په مسیح کې رنځونه زغمي کومه وعده ورکړې شوې ده؟

________________________________________

۱۰- یوائې په یوه کلمه کې لاندې سوالونو ته جواب ورکړئ:

الف) کلیسا څوک هدایت کوي؟ __________

ب) ایمانداران په ____________ کې دي.

روح القدس کلیسا ته د طبیعت څخه لوړ ماهیت وربخښی او د روح القدس په وجه کلیسا د نورو انسانی ټولنو څخه فرق لري. په هغه ځای کې چې روح القدس خپل ځان ځرکند کړی دئ د کلیسا د بنیاد ایښودلو شاهدان یو. د کلیسا قدرت او ژوند انساني نه دئ بلکه روحاني دئ.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱۱- لاندې متنونه ولولئ او ولیکئ چې روح القدس د کلیسا د پاره کوم کار سرته رسوي؟

الف) فیلپیان ۲: ۱ ____________________

____________________________________

ب) اعمال ۱: ۸____________________

____________________________________

ج) اول کورنتیان ۱۲: ۸- ۱۲

____________________________________

____________________________________

د) افسیان ۴: ۳-۴ ___________________

_________________________________

خپل جوابونه مقایسه کړۍ

مونږ باید د خپل خدای شکر ادا کړو چې هغه غوره کړي یو تر څو د هغه د کلیسا یوه برخه وګرځو. کلیسا د خدای له خوا هدایت کیږي او د مسیح سره یو ځای شوي ده او د روح القدس نه معموره شوي ده. د خدای کلیسا هم محلي او هم د نړۍ په سطحه ده. د ټولې نړۍ ایمانداران صرف د مسیح سره مینه کوي. هغوی ټول د یو روح نه معمور شویدي تر څو د هغه څخه وڅښي (اول کورنتیان ۱۲: ۱۳).

کلیسا څه ته وائی؟ کلیسا د ایماندارانو د مشارکت څخه عبارت ده. خدای د کلیسا نقشه د اول نه جوړه کړی وه او د نوي عهد د وخت نه وروسته کلیسا په مسلسله توګه خلکو ته څرګند کړی ده. کلیسا ستاسو په سیمه او وطن کې د خدای ګواه ده.

جوابونه مقایسه کړی

۱۱- الف) مونږ ته روح القدس د مشارکت قدرت رابخښي

ب) روح القدس مونږ ته د شهادت ورکولو قدرت رابخښي.

ج) روح القدس د روح نعمتونه مونږ ته رابخښی

د) روح القدس مونږ ته یووالي رابخښي.

۱- الف) معمولی غونډه

ب) قانوني غونډه

ج) معمولي غونډه

۱۰- الف) خدای (پلار)

ب) مسیح

۲- ج) یوه مذهبې جلسه

۹- د مسیح په جلال کې به شریک شي.

۳- ج) هم مذهبي ټولنه او هم غیر مذهبي ټولنه

۸- الف) "هغه کليسا . . . . چې د پلار خدای او د مالک عيسی مسيح ده."

ب) "د خدای کليسا"

ج) "د خدای کليساګانې"

۴- د اسرائيلو خلک

۷- هغه مسيحيان چې محلي کليساګانې جوړوي د مسيح د بدن يوه برخه او يا په بل عبارت د نړيوالې کليسا يوه برخه ګرځي.

۵- د ايماندارانو کليسا

۶- الف) محلي (هره کليسا)

ب) محلي (د تسالونيکيانو د کليسا خلک)

ج) نړيواله (هغه د بدن سر دی، کليسا)

د) نړيواله

ه) نړيواله (په کليسا کې جلال)

و) محلي

## څلورم لوست

# ځنګه کولای شم چې د خدای د کلیسا یوه برخه اوسم

مونږ تر دې ځایه د کلیسا د ماضی په هکله په کافي اندازه مطالعه وکړه. وموليدل چې خدای ځنګه خپله نقشه سره ته ورسوله، او همدارنګه مونږ د کلیسا معنی په هکله وپوهیدلو. نو اوس دې خبرې ته تیار یو چې په حاضر وخت باندې فکر وکړو. ځکه چې مونږ په ماضي کې ژوند نه کوو. مونږ نن ورځ په حال زمانه کې ژوند کوو.

تیر شوی وخت زما د پاره څۀ مفهوم لري؟.زما د پاره د کلیسا معنی څه ده؟ په دې لوست کې به مونږ په تاسو او په کلیسا باندې نظر واچوو. دا لوست ډیر مهم او شخصي لوست دی. او امکان لري چې د دې کتاب د مهمو لوستونو څخه وشميرل شي. ډير خلک د ډیرو تکليفونو سره مخامخ دی ځکه هغه حقیقت چې په دې لوست کې تاسو ته وړاندې کیږي د هغه نه

ناخبره دي. امکان لري چې د کلیسا تکلیفونه او زحمتونه ډیر وخت ونیسي او بیا هم په حقیقت ونه وپوهیږی. دا صفحی په غور سره مطالعه کړی.

تر اوسه پورې ما تاسو لیدلي نه یی. او همدارنګه ما سره مو ملاقات نه دئ شوی خو که چیرې تاسو عیسی مسیح د خلاصوونکی په حیث قبول کړی وي، نو بیا مونږ دواړه د کلیسا غړي یو. د خدای په فضل سره به یوه ورځ یو بل ووینو. مونږ به په آسمان کې د یو بل سره اوسیږو. په آسمان کې به د خدای عبادت د هغه د لوئي په خاطر کوو. مونږ به د هغه د کلیسا د ذات او ماهیت په هکله ډیر نور شیان وپیژنو.

هغه څه چې تاسو به یې په دې لوست کې ولولی

د انسان مسئولیت

د خلاصون په هکله د خدای کار

د خلاصون نومونه د خپل قوم د پاره

دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو چې. .

- په هغه درې شیانو وپوهیږی کوم چې انسان ئې باید سره ته ورسوي تر څو د خدای د کلیسا یوه برخه وګرځي.
- تشریح کړی چې مالک خدای ځنګه خلک د خپلې کلیسا یوه برخه جوړوی.
- هغه څلور نومونه چې مقدس کتاب یې ایماندارانو ته خطاب کوي استعمال کړی.

## د انسان مسئولیت

### توبه

مونږ تر دې ځایه ډیر حیرانوونکي شیان چې خدای د خپلې کلیسا د پاره سر ته رسولي دي ولیدل. دا ډیر د افسوس خبره ده که چیرې انسان د برکت نه پاتې شي. مونږ باید کوم کار وکړو چې د خدای د کلیسا یوه برخه وګرځو؟

د ټولو نه اول مقدس کتاب فرمائي چې بايد توبه وکړو. توبه کول يعنی د خپل فکر انداز بدلول، او خپله رويه او خيالات بدلول. په توبه کې انسان خپل ماضي ژوند ته فکر کوي او د خپلو ګناهونو په باره کې پښيمانی څرګندوي او د بدلولو تصميم نيسي. په توبه کولو انسان د خپل "ځان" څخه تيريږي او هغه ځاي خدای ته ورکوي کوم چې ګناه ته ئې ورکړي وو. پولوس دا کار داسې تشريح کوي: "خو چې څومره خبرې زما د ګټې وې، هم هغه ما د مسيح د خاطره نقصان وګڼلې" (فيلپيان ۳: ۷). عيسی د هغه ځوان بيان وکړ چې خپل پلار يې پريښود او خپل مال دولت ئې بې ځايه استعمال کړو او بيا يې توبه وکړه او د خپل پلار طرف ته راغی. هغه چې کوم کارونه کړي وو پښيمانه وو او بيا ئې تصميم ونيو چې خپل ژوند ته تغير ورکړي. او رښتينې توبه دا ده (لوقا ۱۵: ۱۱- ۳۲).

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱- دا لاندې هر متن ولولئ او د دې آیتونو اصلي موضوع ذکر کړئ.

الف) متی ۳: ۲ ______________________

______________________________________

ب) متی ۴: ۱۷ ______________________

______________________________________

ج) اعمال ۲: ۳۸ ______________________

______________________________________

۲- توبه تعریف کړئ

______________________________________

______________________________________

## راګرځېدل

د "را ګرځېدلو" کلمه یا دې ته ورته لغتونه په نوې عهد کې تقریباً ځلویښت ځله راغلي دي. دا کلمه په حقیقت

کې " د راګرځيدلو عمل" څخه عبارت ده دا لغت د اعمال په کتاب کې ډير استعمال شوی دی. د بيا راګرځيدلو لغت "د مالک طرف" ته او يا "د خدای طرف" ته استعماليږي (اعمال **۹**: **۳۵**، **۱۱**: **۲۱**، **۱۵**: **۱۹**). يو سړی بايد د خپلو پخوانيو کارونو څخه لاس واخلي او نوې لار اختيار کړي او خپل ځان خدای ته حواله کړي.

دغه راګرځيدل په حقيقت کې د ځينو شيانو څخه راګرځيدل دي او د نورو شيانو لورې ته تلل دي. پولوس د تسالونيکيانو کليسا ته وويل: چې په هر ځای کې مسيحيانو د هغوی نه څنګه استقبال وکړو "ځکه چې هغوي په خپله زمونږ ذکر کوي چې ستاسو په طرف زمونږ راتلل څنګه وو، تاسو د بتانو نه راواوړيدی او خدای ته راوګرځيدی، د دې د پاره چې د ژوندي او حقيقی خدای عبادت وکړئ." (اول تسالونيکيان ۱: ۹).

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

**۳**- لاندې سوالونو ته جواب ورکړئ:

الف) د بیا راګرځیدو معنی څه ده؟________

ب) انسان باید د کومو شیانو نه لاس واخلي؟

________________________________________

ج) انسان باید د کومو شیانو په لور لاړ شي؟

________________________________________

## ایمان

ایمان یعنی: "اعتماد لرل" یا "باور لرل" مقدس کتاب وائي ابراهیم په خدای ایمان راوړلو او دا کار هغه ته په صداقت حساب شو. نوې عهد سربیره پر دې چې د دغو لغتونو یادونه کوی بلکه نوره اضافه هم کوي. د مقدس کتاب د پیشګویې په اساس خدای به د ایمان

په وسیله د غیر یهودیانو رابطه هم د خپل ځان سره جوړه او صحیح کړي.

د دې لپاره چې وکولای شو په مسیح باندې ایمان راوړو باید چې د هغه سره ملاقات وکړو هغه سره مینه وکړو او په هغه باندی باور ولرو. په حقیقت کې باید د هغه نه اطاعت وکړو او د هغه سره وفادار پاتی شو ایمان یو غیر فعال شی نه دی ایمان یعنی په خدای باندې فعال باور کول. زمونږ ایمان زمونږ د عملونو په وسیله څرګندیږی.

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

۴- د بندیخانې داروغه د پولوس او سیلاس څخه پوښتنه وکړه: "زۀ څۀ وکړم چې خلاصون حاصل کړم؟" دې سوال ته جواب ورکړۍ. بیا اعمال ۱۶: ۳۰- ۳۱ ولولۍ کوم جواب چې به داروغه ته ورکول وي هغه ولیکۍ ________________

________________________________________

**۵- ایمان تعریف کړی** ____________________

____________________________________

____________________________________

توبه، بیا راګرځیدل، او ایمان یو بل سره نژدې رابطه لري. دا د یوې تجربې درې حصې دي. آیا تاسو په رښتیا توبه کړیده او بیا راګرځیدلي یی او په مسیح ایمان لری؟ که چیرې په حقیقت کې مو دا کار نه وي کړې نو اوس د ایمان په وسیله مسیح قبول کړی. دا هغه کار دی چې کولای شی د هغه په وسیله په کلیسا کې داخل شی.

## د خلاصون په هکله د خدای کار

ما تر اوسه پورې تر خدایه پورې د انسان د رسیدو کار تاسو ته وښودلو. خو سره د دې بیا هم انسان نشی کولای چی بې د خدای د مرستې خپله برخه مسئولیت پوره کړي. خدای انسانان کلیسا ته راولي. لوقا وایي: "هغوی د خدای ثنا وئیله، نو ټول خلک ترې راضی وو او هره ورځ څومره خلکو چې خلاصون موندلو نو مالک د هغوی په ډله کې شاملول" (اعمال ۲: ۴۷).

## نوی پیدا ایښت

په جسمانی پیدایښت انسان مسیحي کیدی نشی. مګر دا کار په نوی پیدایښت پورې اړه پیدا کوي عیسی مسیح چې کله د نیکودیموس سره خبرې کولې په واضح توګه ئې هغه ته وویل چی باید دوباره وزیږیږی (یوحنا ۳: ۳-۷). عیسی جواب ورکړو: "چې د انسان نه پیدا کیږی هغه جسم دئ خو چې د روح القدس نه پیدا کیږی هغه روح دئ" (یوحنا ۳: ۲). پولوس هم بیا دا حقیقت تکرار کړو. "زما مطلب دا دئ چې د انسان جسم د خدای د بادشاهۍ وارث نه شي کیدی او دا جسم چې مړ کیدونی دئ د بقا وارث کیدی نه شي" (اول کورنتیان ۱۵: ۵۰).

هو خدای دا غواړی چې تاسو بیا پیدا شۍ. ستاسو نه دا غواړی چې بیا شروع وکړۍ. مقدس کتاب دې کار ته نوې خلقت وائي لکه څنګه چې په یوه بشرې کورنۍ کې پیدا شوی یې باید د خدای کور ته د داخلیدو لپاره د روح نه پیدا شئ.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۲- هر کله چې د یو انسان په ژوند کی نوی پیدا ایښت رامنځ ته شی، نو هغه ته څه پیښیږي؟ ________

________________________________________

## نوی طبیعت

تاسو په خاص او مقرر شوی طبیعت کې زیږیدلی یاست. کله چې بیا د سره پیدا شی نو یو نوې طبیعت حاصلوئ او تاسو د خدای طبیعت په خپل ځان کې پیدا کوی.. پطروس د هغه ایماندارانو په هکله خبرې وکړلی چې د خدای په الوهیت کې شریک او برخه لري (دویم پطروس ۱ : ۴).

پولوس په دې هکله داسې فرمایی: "د دې د پاره که څوک په مسیح کې وی نو هغه نوی مخلوق دی، زاړه څیزونه تیر شول، وګوری هغه اوس نوی شول" (دویم کورنتیان ۵: ۱۷). مقدس کتاب فرمایي چې بیا د سره پیدا کیدل دوه نخښې لري. لومړی نښه

زمونږ په زړونو کې د روح القدس شهادت دی. (روميان ۸: ۱۶) او دويمه نښه د روح ميوه ده چې د ايماندارانو په ژوند کې ښکاره کيږی. هغوی چې د روح القدس نه پيدا شوي دي په (ګلتيانو ۵: ۲۲- ۲۳ دغه ميوې په جدا جدا ډول ښودل شوي دي).

ستاسو کار

**هغه څه چې بايد تاسو يې سر ته ورسوۍ**

۷- متی ۱۲: ۳۳- ۳۵ ولولۍ او نوې طبيعت تشريح کړۍ ______________________________________

۸- خپل ژوند امتحان کړۍ او د (هو) او د (نه) په جوابونو سره لاندې سوالونو ته جواب ورکړۍ.

الف) آيا په خپل زړۀ کې د روح القدس شهادت لرۍ؟ ________________________________

ب) آيا نور خلک ستاسو په ژوند کې د روح القدس ميوه ليدلی شي؟

______________________________________

______________________________________

که چیرې تاسو دې سوالونو ته په نه جواب ورکړي وي، نو باید دویم ځل خپل ژوند امتحان کړئ او مطمئینه شئ او توبه وکړئ او د ګناه کولو نه راوګرځئ او په پوره او مکمل ډول په خدای باندې باور وکړئ.

د خدای نومونه د خپل قوم د پاره

ډیر داسې کسان شته دي چې خپل ځانونه مسیحي ګڼي خو سره د دې بیا هم لکه ځنګه چې مو مخکې مطالعه وکړه روحانی تجربه نه لري. دغه کسان ربنتینی مسیحیان نه دي سره له دې چې د کومې کلیسا سره مرسته هم وکړي او د کلیسا غړیتوب هم ولري. کولای شو چې داسې کسانو ته تش په نوم مسیحیان یا "نه راګرځیدونکي" ایمانداران ووایو.

داسې کسانو ته هیڅکله هغه نومونه نشو ورکولای کوم چې په مقدس کتاب کې حقیقی ایماندارانو ته ورکړي شوي دي. مونږ صرف څلورو نومونو باندې فکر کوو. که چیرې وغواړو چې په غور

سره په ټولو نومونو باندې فکر وکړو نو په یقین سره چې باید ډیرې صفحې دې نومونو ته بیلې کړو.

## شاګردان

د اعمالو په ټول کتاب کې ایماندارانو ته د شاګردانو خطاب شوی دئ. په (اعمال ۶: ۲، ۹: ۱، ۱۱: ۲۶، ۱۴: ۲۱-۲۲، ۱۸: ۲۷ او ۱۹: ۱۹) کې مسیح خپلو پیروانو ته د شاګردانو لقب ورکړو. شاګرد هغه چا ته ویلی شي چې زده کړه کوي. او د خپل استاد نه تعلیمونه حاصلوي. په انجیلونو کې شاګردان د خپل استاذ سره ډیر نژدې اړیکي لري او خپل ځانونه ئې دې ته وقف کړي دي چې د مسیح نه اطاعت وکړي.

هغه کسان چې بیا د سره نه دې زیږیدلي، نشي کولای چې د مسیح نه اطاعت وکړي. نشو کولای چې دغو کسانو ته شاګردان ووایو. داسې کسانو ته مسیحیان نشو ویلای ځکه چې حقیقي مسیحیان نه دي.

## مقدس

مقدس کتاب اکثره د کلیسا غړو ته مقدس وايي (اعمال ۹: ۱۳، ۴۱ دویم کورنتیان ۱: ۱، ۱۳: ۱۳ او افسیان ۴: ۱۲، کولوسیان ۱: ۱۲ ته مراجعه وکړی). دې خبرې ته پام وکړی مقدسین لکه ځنګه چې په آسمان کې دي نو په ځمکه هم وي.

مقدسین هغه خلک دي چې د خدای لپاره د نورو نه جدا شوي دي. هغه کسان چې بیا د سره پیدا شوي نه دي د مقدسینو څخه نه شمیرل کیږی. او نه دا خلک په کلیسا کې ځای لري. هغوی د مالک لپاره نه دي جدا شوي

## ورونه

د ورونو اصطلاح په مقدس کتاب کې د ایماندارانو لپاره لمړنی نوم دئ. دا کلمه د کلیسا د غړو یووالی په ګوته کوي کلیسا د خدای کور دئ. ایمانداران د بیا د سره پیدا کیدلو په وسیله د خدای په

کور کې شامليږي. ايمانداران د مسيح ورونه دي. (عبرانيان ۲: ۱۱- ۱۲، ۱۷).

هغه کسان چې بيا د سره نه دي پيدا شوي مسيحي ورونه نه دي. نو د دې د پاره هغوی د کليسا غړي کيدی نه شي.

## مسيحيان

لکه ځنګه چې مو مخکې وليدل چې په شروع کې ئې ايماندارانو ته مسيحيان نه ويل هغوی د شاګردانو د مقدسينو او ورونو په نوم ياديدل. د مسيحيانو د لفظ اصطلاح د اول ځل لپاره د ايماندارانو پورې د ټوقو او مسخرو په صفت استعمال شوه. مګر دا اصطلاح هغه خلکو ته ورکول کيږی چې د مسيح پورې اړه لري. هغوي د مسيح په شان دي (اعمال ۱۱: ۲۲، ۲۶: ۲۸، اول پطروس ۴: ۱۶).

د مسيحي اصطلاح صرف هغه خلکو ته استعماليږي چې بيا پيدا شوي وي او د مسيح طبيعت په هغوی کې ځای نيولی وي.

لمړنی ایمانداران یې په مختلفو نومونو یادول دا نومونه یواځی د هغو کسانو باندې ایښودل کیدل چې نوی پیدا ایښت ئې موندلی وو او هغه کسان چې یواځی کلیسا ته راتلل خو نوې پیدا ښت ئې نه وو موندلی په دې نومونو نه یادیدل.

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۹- د هغو څلورو اصلاح ګانو نومونه واخلی چې مسیحیانو ته اخستل کیږي ________________

________________________________________

۱۰- د لاندې برخو لپاره یوه د هغو څلورو اصطلاح ګانو چې مو یادې انتخاب کړی کومه چې مناسبه وي نو دا اصطلاح د هغې تر خوا ولیکی.

الف) هغه شاګرد چې د خپل استاد سره نژدې اړیکی لري ________________

________________________________________

________________________________________

ب) هغه اصطلاح به چې د ایماندارانو پورې د مسخرو او ټوقو په توګه استعمالیدله او هغوي به لکه د مسیح رفتار کاوه

________________________________________

________________________________________

ج) هغه ایمانداران چې د خدای لپاره جدا شوي دي ______________________

د) هغه اصطلاح چې دا په ګوته کوي چې ایمانداران د خدای د کورنۍ د یوې برخې څخه عبارت دي ____________________

زه یقین لرم چې تاسو بیا د سره پیدا شوي یۍ. زه یقین لرم چې تاسو د کلیسا یوه برخه یۍ. دا تجربه ستاسو د ژوند د ټولو نه مهمه تجربه ده. امکان لري چې تاسو د کلیسا غړی اوسۍ. امکان لري چې تاسو ته مسیحي ووایی. خو باید تاسو د دې په خاطر چې د خدای د کلیسا غړي یاست باید چې د سر نه بیا پیدا شۍ. همدا اوس کار وکړۍ.

## خپل جوابونه مقایسه کړۍ

۱۰- الف) شاګرد

ب) مسیحي

ج) مقدس

د) ورور

۱- الف) توبه

ب) توبه

ج) توبه

۹- شاګردان، مقدسین، ورونه، مسیحیان

۲- هغه جواب چې تاسو د خپل فکر نه ورکړی دی. خو دا جواب باید د پښیمانی احساس او د بدلیدلو علاقه په خپل ذات کې ولري.

۸- هغه جواب چې تاسو ورکړی دئ. که ستاسو جواب (نه) او یا مطمئین نه یې نو د خدای نه وغواړۍ چې تاسو ته تازه طبیعت درکړي.

۳- الف)  لاس اخیستل

ب)  د بت پرستۍ او ګناه نه

ج)  خدای

۷- خلک لکه د ونو په شان د خپل طبیعت په مطابق میوه نیسی. په نوې پیدایښت کې، ایمانداران نوی طبیعت تر لاسه کوي.

۴- " په عیسی مسیح باندې ایمان راوړه تر څو خلاصون ومومي."

۲- د خدای په کور کې پیدا کیدل. دا یو روحاني زیږیدنه ده.

۵- هغه جواب چې تاسو ورکړي دئ. باید په هره موضوع او کار کې په خدای باندې باور او په هغه باندې توکل کول زده کړی.

## پنځم لوست

# کليسا څنګه له يو بدن ده

يواځې ايمانداران د خداى د کليسا حقيقي غړي دي. په تيرو لوستونو کې مو وليدل چې ايمانداران مختلف نومونه لري. هغوى په شاګردانو، پاکانو، ورونو او مسيحيانو باندې ياديدل. د دې نومونو څخه هر يو مونږ ته د ايماندارانو په هکله يو څه نا څه وائې.

همدارنګه کليسا ته هم مختلف نومونه ورکړل شوي دي. او هر يو له دې نومونو څخه د کليسا ځينې حقايق بيانوي. مونږ به له دې نومونو څخه يوه نوم ته کتنه وکړو. مقدس کتاب اکثره وخت وائې چې کليسا يو بدن دى. په دې لوست کې به مونږ د دې جملې مفهوم مطالعه کړو.

په کليسا کې تاسو ټولو ايماندارانو سره نژدې اړيکې لرئ. هغوى ستاسو د پاره مهم دي. د دې لپاره هر وخت د خداى شکر ادا کړئ او د خداى نه وغواړئ چې تاسو ته وښايي چې د هغوى مرستې لپاره تاسو څۀ

کولای شی. هغوی هم کولای شي چې له تاسو سره مرسته وکړي. که چیرې تاسو هغه څه چې په دې لوست کې زده کوی هغه په خپل ژوند کې عملی نه کړی نو په حقیقت کې دا درس بې ګټې دی. هر هغه څه چې تاسو نن ورځ زده کوئ هغه عملي کړی.

**هغه څه چې تاسو به یې په دې لوست کې ولولی**

مسیح او کلیسا

مسیح، د ژوند سرچینه

مسیح، مالک

مسیح، تیاروونکی

د کلیسا داخلی حالات

په کلیسا کې یووالی

په کلیسا کې اختلاف

په کلیسا کې پاملرنه

دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو چې . .

- تشريح کړﺉ چې کليسا څنګه د يو ژوندی بدن په شان ده.
- د مسيح او کليسا په منځ کې رابطه تشريح کړﺉ
- د کليسا داخلی روابط تشريح کړﺉ
- تاسو به د هغه مسئوليتونو څخه خبر شﺉ چې ئې د نورو په هکله لرﺉ.

## مسيح او کليسا

مقدس کتاب کليسا د مختلفو شيانو سره مقايسه کوي. مقدس کتاب وايي چې کليسا لکه د يو کور (افسيان ۲ : ۲۱)، يوې ناوې (افسيان **۵**: **۲۲-۲۳**)، يوې رمې (يوحنا ۱۰ : ۱۲) او يا د انګور د بوټي (يوحنا ۱۵ : **۴**) په شان ده. دا ليست تر اوسه پورې نه دئ خلاص شوي. او که چيری وغواړو چې ټول وليکو نو بايد چې يو څو پاڼې د دوی لپاره بيلې کړو. ځينې کسانو په نوې عهد کې د ۲۰۰ نه زيات ورته والي د

کلیسا په هکله پیدا کړي دي. مونږ نشو کولای چې دا ټول مطالعه کړو. مقدس کتاب وایې چې کلیسا د یو بدن په شان ده مونږ هم چې څنګه مخ په وړاندې ځو نو په دې هکله به ډیر شیان زده کړو.

## مسیح، د ژوند سرچینه

یو ژوندی ځان وده کوي او فعال وی. هر یو جسم یو سر لري. د سر او د بدن په خپلو کې رابطه ډیره مهمه ده. پولوس د کولوسیانو کلیسا ته ولیکل چې: "عیسی د کلیسا سر او ازل دی" (کولوسیان ۱: ۱۸). مسیح دی چې کلیسا ته ژوند وربښي. عمارتونه، تشکیلونه، او جلسې ژوند نه شي ورکولای. یواځې مسیح کولای شي چې دا کار وکړي.

هر ایماندار او ټولې کلیساګانې " د هغه سره یووالي لری چې په حقیقت کې پوره شوی دي" (کولوسیان ۲: ۱۰). بدن په سر باندې کاملیږی او کلیسا هم د مسیح په وسیله کاملیږي.

# ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱- لاندې دوو جوابونو څخه چې په قوس کې دی ښه جواب غوره کړئ او په خالي ځای کې ئې ولیکئ.

الف) کلیسا په دې سبب ژوندئ ده چې خپل ژوند له ______________ څخه اخلي.

(تشکیلونه) (مسیح)

ب) څوک د کلیسا سر دی؟ ________________

(ناوی) (مسیح)

۲- کولوسیان ۲: ۱۲- ۱۳ ولولئ او لاندې جمله پوره کړئ:

ایمانداران د مسیح سره د هغه ____________

او د هغه په ___________________ کاملیږی.

## مسیح مالک

عیسی نه یواځې دا چې د ژوندون سر چینه ده بلکه د کلیسا مالک هم دی. "نو لکه څرنګ چې جماعت د مسیح تابع دی دغه شان دې ښځې هم په هره خبره کې د خپلو خاوندانو تابع وي" (افسیان **۵**: **۲۴**). لاس سر ته نه وائي چې باید کوم کار سر ته ورسوی مګر دا سر دی چې په لاس باندې حکمراني کوي. کلیسا باید د مسیح تابع اوسی. "او هر څه ئې د هغه د پښو د لاندې کړل او هغه ئې د ټولو څیزونو سردار جوړ کړو، او جماعت مالک شي. جماعت د مسیح بدن دی، دا بدن د هغه نه کامل کیږي چې هغه له ټولو په هر څه کې کامل وی" (افسیان ۱: ۲۲- ۲۳).

هر څوک رئیس لري. ځینې خلک د یو انساني مشر څخه اطاعت کوي. ډیر خلک د ګناه تابع دي. د لومړنیو مسیحیانو پیغام دا وو. "عیسی مسیح مالک دی!"

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

**۳**- لاندې دوه جوابونه کوم چې په قوس کې دي ښه جواب غوره او په خالي ځای کې ئې ولیکئ.

الف) د کلیسا مالک _______________ دی.

(یو کار کوونکی) (مسیح)

ب) د کلیسا سر _________________ دی.

(یو انسان) (مسیح)

## مسیح تیاروونکی دی

عیسی مسیح، مینې او محبت نه ډک مالک دی. مونږ خپل ځان هغه ته سپارو او هغه په مینې او محبت سره زمونږ ساتنه او حفاظت کوي. پولوس دا خبره داسې تشریح کوي. "ځکه چې چیرې هم چا د خپل بدن سره دښمني نه ده کړې بلکه هغه پالي او پرورش ئې کوي، داسې لکه چې مسیح د جماعت کوله. ځکه چې مونږ د هغه د بدن اندامونه یو" (افسیان **۵**: **۲۹**- **۳۰**). کلیسا

د دې په خاطر چې د مسیح سره اړیکې لری خپل ژوند ته دوام ورکوی. کلیسا د مسیح په وسیله ساتل کیږي. "داسې خلکو خپل روابط د مسیح سره، یعنې د سر سره پرېښې دي. د مسیح په ټول وجود اختیار دی، او هغه وجود د مسیح په ټول وجود اختیار دی، او هغه وجود د مسیح نه د طاقت موندلو په وسیله پلی، بندونه او اندامونه په یو بدن کې یو ځای کیږي. داسې هغه د خدای د مرضۍ په مطابق لوئیږي." (کولوسیان ۲: ۱۹).

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

۴- د هغه لارو په هکله فکر وکړۍ چې مسیح ستاسو د ژوند په ځایونو کې تیار کړي دي. او بیا هغه لاندې ولیکۍ.

______________________________

______________________________

______________________________

**۵**- هغه درې طریقې چې د هغوی په وسیله مسیح د وجود یعنې کلیسا پورې اړه لري، ولیکئ:

الف) ________________________________

ب) ________________________________

ج) ________________________________

## د کلیسا داخلی حالات

د انجیل یا نوي عهد ډیره برخه د کلیسا په هکله لیکل شوي ده یو مسیحی ایماندار په ځانګړی توګه نشي کولای چې د یو بل نه جدا ژوند وکړي. په لمړنیو کلیساګانو کې نوی ایمان راوړونکی په ډیرې تیزی سره د عبادت او شراکت لپاره دعوت کیدل. لوقا په دې هکله داسې لیکلي دي: "د عیسی د منونکو ډلې پوره په اخلاص سره یووالی لرلو او په هغوی کې یو کس هم د یو څیز د پاره دا دعوی نه کوله چې ګنې دا د هغه دی بلکه په هر یو شي کې شریک وو" (اعمال ۴: ۳۲).

بې له کوم نژادي، ملکی، او اجتماعی موقعیت توپیر نه پرته ایماندارانو په کلیسا کې یووالی پیدا کړی وو. "څنګه چې یو بدن او یو روح القدس دی" (افسیان ۴: ۴). دا یووالي په دې معنی نه دی چې یاید ټول مسیحیان دی د کلیسا د تشکیلاتو پورې اړه ولري. دا یووالي په دې معنی ندی چې ټول ایمانداران دی باید په یوه طریقه د یو بل سره شراکت ولري. دا یووالی دا معنی ورکوي چې باید د ایماندارانو په منځ کې مینه او محبت او یووالی حکومت وکړي. په کلیسا کې بې اتفاقي هیڅکله هم ښه نه ده بلکه دردونکی هم وي. هغه بې اتفاقي چې په کلیسا کې پیدا کیږي کلیسا د جفا په لور بیایي. د کورنتیانو کلیسا د داسې تکلیفونو سره مخامخ وه. (اول کورنتیان ۱: ۱۲- ۱۳ ته رجوع وکړي). پولوس په یووالي باندې تکیه کوي. "د پاره د دې چې په بدن کې بې اتفاقي پیدا نه شي بلکه اندامونه د یو بل برابر خیال وساتي" (اول کورنتیان ۱۲: ۲۵). په کلیسا کې بې اتفاقی اکثراً د دې خبرې نه پیدا کیږي چې په

کلیسا کې ځینې خلک د نورو ټولو نه خپل ځان لوی ګڼي.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۲- په لاندې دوو جوابونو کې کوم چې په قوس کې دي ښه جواب غوره کړئ او په خالي ځای کې ئې ولیکئ.

الف) د مقدس کتاب مفهوم د یووالي نه د یو _______________________ لرل دي.

(تشکیلات) (روح)

ب) بې اتفاقي په کلیسا کې له _________________ نه پیدا کیږي.

(خود خواهی) (محبت)

## په کلیسا کې اختلاف

یووالی په دې معنی نه دی چې ټول مسیحیان باید یو شان وی. نه! هر مسیحی د بل مسیحي سره فرق لري. دا فرق او توپیر کلیسا ته قوت او برابری وربخښی. "ځکه لکه څنګه چې بدن یو دی او د هغه اندامونه ډیر دي، او اګر که د بدن ټول اندامونه ډیر دي خو ټول سره یو بدن دی، دغه شان مسیح هم دی." (اول کورنتیان ۱۲: ۱۲).

د بدن یو اندام نشی کولای چې بل اندام ته ووائي "چې زه تا ته ضرورت نه لرم!" یو اندام د بل اندام محتاج دی. مسیحیان هم د یو بل محتاجه دي. (اول کورنتیان ۱۲: ۱۲-۲۲ ته باید رجوع وکړی). امکان لري چې ایمانداران هغه څه چې سر ته رسوي (آیات ۱۷)، په قوت کې (آیات ۲۲)، یا په عزت کې (آیات ۲۳) د یو بل سره فرق لري. خو ولې صرف یواځې یو بدن وجود لري. پولوس دا حقیقت د روم کلیسا ته داسې تشریح کړو. "دغه شان مونږ هم ډیر یو او په خپلو کې د یو بل اندامونه یو او په مسیح کې لکه یو وجود

شوي یو. او د هغه رحم په مطابق چې په مونږ شوی دی، مونږ ته قسما قسم نعمتونه حاصل دي، ځکه چې چا ته چې د خدای د کلام آورولو نعمت ورکړے شوی وي نو هغه دې د خپل ایمان په اندازه کلام آوروي" (رومیان ۱۲: **۵-۶**).

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

۷- په رومیانو ۱۲: ۶- ۸ کې د نعمتونو یو لیست وجود لري چې بدن ته ورکړی شوی دی.

مطالعه ئې کړۍ او د هغو نعمتونو په مقابل کې یوه نښه ولیکۍ چې خدای تاسو ته درکړي دي چې خدای تاسو ته در کړي دي چې د هغه جلال او لوئې د پاره ترې کار واخلۍ.

الف) د خدای د کلام بیانول ______________

ب) خدمت کول ____________________

ج) تعلیم ورکول ____________________

د) تشویقول ______________________

و) بخښنه ________________________

ی) لارښوونه کول ____________________

ه) مهرباني کول _____________________

۸- اوس د نعمتونو په رنګا رنګ ډول استعمال ته توجه وکړی. آیا تاسو خپل نعمتونه استعمالوی؟ په دې هکله دعا وکړی.

## په کلیسا کې پاملرنه

تاسو د خدای په کلیسا کې برخه لری. تاسو به دا خبره د مسیح د خدمت کولو په خاطر په حساس ډول قبوله کړی. ستاسو د مسئولیتونو د جملې نه یو دا دی چې د ټولو ایماندارانو څخه ساتنه وکړی. لکه څنګه چې مو په وار وار لیدلی دي، په بدن کې لاس غوږ ته محتاجه دی او غوږ د پښو محتاجه دی. لکه څنګه چې انجیل فرمائی: "د هغه په وسیله د بدن هره یوه حصه یو ځای کیږي او د بدن د خپل هر یو پیوند په مدد قائم وي، لکه څرنګه چې د بدن هره یوه حصه په ښه شان

کار کوی نو ټول بدن پرې وده کوي او په مينه کې ترقی هم مومي" (افسيان ۴: ۱۲). د بدن هيڅ يوه برخه په ځانګړې توګه کار نشي کولای. هر يوه برخه د بدن د بلې برخې محتاجه ده.

نو د دې د پاره د صداقت او رښتينوالي ضرورت دی: "نو بس دروغ وئيل پرېږدی، او هر څوک دې د خپل ګاونډي سره رښتيا ووائي ځکه چې مونږ ټول د يو بدن اندامونه يو" (افسيان ۴: ۲۵). نو په دې سبب سره چې مونږ ايمانداران د يو بل اندامونه يو نو بايد د يو بل سره مرسته وکړو. "تاسو د يو بل خيال ساتئ، او دغه شان د مسيح شريعت پوره کوئ" (ګلتيان ۲: ۲). پولوس د بدن د زحمت او تکليفونو په باره کې په همدې ډول يادونه کړېده. "نو بيا که يو اندام درد ومومی نو د هغه سره ټول اندامونه دردېږي، او که چيرې يو اندام عزت مومی نو د هغه سره ټول اندامونه خوشحالېږي" (اول کورنتيان ۱۲: ۲۶). د نورو خيال ساتل د کليسا نخښه ده. يوحنا په دې هکله داسې ليکي: "که تاسو د يو بل سره مينه کوئ نو بيا به ټول

په دې پوه شي چې تاسو زما مريدان يئ" (يوحنا ۱۳: ۳۵).

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۹- دې برخې ته نظر وکړئ او بیا هغه طریقه پیدا کړئ چې د هغې په وسیله کولای شئ چې د نورو خلکو خیال وساتئ. آیا تاسو دا کارونه ټول سر ته رسولی شئ؟ ______________________________

______________________________________

______________________________________

۱۰- دا لوست بیا تکرار کړئ. او د خدای څخه وغواړئ چې له تاسو سره مرسته وکړي تر څو په بدن کې خپل مسئولیت پوه شئ او هغه سر ته ورسوئ. په لاندې برخه کې د هغه څه په هکله ولیکئ چې تاسو یې په خپل وار او مسئولیت سره د مسیح په بدن کې د عملی کولو لپاره محتاج یاست.

___________________________________________

___________________________________________

___________________________________________

## خپل جوابونه مقایسه کړۍ

۱۰- ستاسو خپل جواب. د خدای نه وغواړۍ چې له تاسو سره مرسته وکړي.

۱- الف) مسیح

ب) مسیح

۹- الف) حقیقت ویل

ب) د یو بل سره مرسته کول او د یو بل تکلیف اوچتول.

ج) د نورو په تکلیفونو کې شریکیدل.

د) د نورو په خوشحالۍ کې شریکیدل.

ه) د نورو سره مینه کول.

۲- مرګ- بیا ژوندي کیدل.

۸- کوم جواب چې تاسو ورکړی دی.

۳- الف) مسیح

ب) مسیح

۷- ستاسو لیست باید څو علامی ولری. خدای نه وغواړی چې تاسو بدن ته د روحاني نعمتونو د انتقالولو د پاره وسیله وګرځوی.

۴- ستاسو خپل جواب مګر دا کیدای شی چې ښې رهبري، د ګواهی ورکول وخت، یووالی او داسې نور وي.

۲- الف) روح

ب) خود خواهي

۵- الف) مسیح د ژوند سرچینه دی.

ب) مسیح مالک دی.

ج) مسیح تیاروونکی دی.

شپږم لوست

# هغه څه چې کلیسا د خپل ځان د پاره سر ته رسوي

په تیرو شوو لوستونو کې مو ولیدل چې کلیسا څنګه لکه یو بدن ده. مونږ ولیدل چې خلک کیدی شي چې د یو بل سره فرق ولري مګر بیا هم باید یووالي ولري نو تیر لوست مو په دې خبره ختم کړو چې مونږ څنګه کولای شو چې د نورو خلکو سره مرسته وکړو.

دا لوست هم د نورو لوستونو په اساس مخکې ځی. مونږ د نورو په هلکه دا وظیفه لرو. که چیری مونږ د نورو سره شراکت ونلرو او یا هغوی ته تقویت ورنکړو نو په حقیقت کې د خپل کار په وسیله هغوی ته نقصان رسوو. مونږ کولای شو چې هغوی د هغو مرستو څخه محرومه کړو د کومو چې هغوی ته ضرورت دی. دا لوست به تاسو سره مرسته وکړی چې خپلې وظیفې ته د مسیح په بدن کې د عمل جامه ورواغوندی.

دا لوست یو شخصي لوست دی. دا ستاسو کار دی چې يې په خپله سر ته ورسوئ. تاسو باید د خپلې وظیفې څخه خبر شئ او هغې ته د عمل جامه ور واغوندئ. شاید د زیاتی مودې نه را پدې خوا تاسو د کلیسا په هکله مطالعه کوئ، مګر تر هغه وخته پورې چې تاسو کوم شی زده کړیدی د عمل جامه ور وا نه غوندئ. دا لوست به نه ستاسو د پاره او نه د نورو د پاره ګټور وي. د خدای نه وغواړئ چې تاسو سره مرسته وکړي تر څو دا دنده تر سره کړئ.

هغه څه چې تاسو به يې په دې لوست کې ولولئ

په کلیسا کې مشارکت

د کلیسا تقویت

د کلیسا تقدیس

دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو چې . .

- هغه درې طریقې تشریح کړئ چې د هغوی په وسیله ایمانداران کولای شي د یو بل سره مرسته وکړي.

- د نورو خلکو په وړاندې په خپل مسئوليت پوه شې.

## په کليسا کې مشارکت

لمړني ايمانداران "به د رسولانو تعليم آوريدلو ته، د شريک ژوندون، په يو ځای د ډوډۍ ماتولو او د دعا د پاره راغونډيدل" (اعمال ۲: ۴۲).

د مشارکت معنی د دوستۍ، ملګرتيا او مرستې څخه عبارت دی. دا مرسته ډيره ژوره او شخصي ده. هر کله چې پولوس په بنديخانه کې وو دا مشارکت ئې نه درلود. زه په دې ايمان لرم چې د هغه زړهٔ د ايماندارانو د مشارکت پسی تنګ شوی وو په خپلو خطونو کې پولوس رسول د فيليپيانو کليسا ته مشارکت او مرستی په باره کې ډير شيان وايی: "ځکه چې تاسو د اولنۍ ورځی نه تر ننه پورې د زيری په خورولو کې له ما سره شريک پاتی يۍ" (فيليپيان ۱: ۵). د روح القدس شراکت (فيليپيان ۲: ۱). او د هغه سره په زغمونو کې شريک شم (فيليپيان ۳: ۱۰). بيا هم تاسو ښه وکړل چې زما په مصيبت کې شريک شوۍ (فيليپيان ۴: ۱۴). نو ستاسو نه سيوا يو

جماعت هم د ورکړې راکړې په معامله کې زما مدد
ونه کړو (فیلیپیان ۴: ۱۵).

ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱- د شراکت په بحث باندې فکر وکړئ او د هغه لارو نومونه ولیکئ کومې به چې وړمبیو ایماندارانو استعمالولې ___________________________

___________________________________________

___________________________________________

۲- یو بل لیست تیار کړئ. او په دې لیست کې د شراکت هغه طریقه ولیکئ د کومې په وسیله چې تاسو کولای شئ چې د نورو سره مرسته وکړئ. نو په جزئیاتو باندې هم غور وکړئ او د هغو ایماندارانو نومونه ولیکئ کوم چې مرستې ته ضرورت لري ___________________________

___________________________________________

---

---

## د کلیسا تقویت

د شراکت او جوړولو دوه کلمې د یو بل سره اړه لری. د شراکت اصطلاح د یو بل سره د یووالی په لرلو تاکید کوی. او د جوړولو اصطلاح هم د تقویت کولو معنی ورکوی. ایمانداران نه یواځې دا چې باید په خپلو کی یووالی ولري بلکه د یو بل سره باید مرسته هم وکړي.

که څه هم چې ایمانداران یواځې د خپل ایمان د تقویت مسئولیت لري (یهودا ۲۰)، په داسې حال کې هم باید نورو ته تقویت ورکړي. کله چې مسیحیان د یو بل سره لیدنه کوي هر یو د دوی نه د نورو د مدد د پاره یو څه لری چې باید سر ته ئې ورسوي. که څه هم چې د یو بل سره فرق لری. "دا ټولې خبرې باید د کلیسا د تقویت د پاره سر ته ورسیږي" (اول کورنتیان ۱۴: ۲۶). د نورو د قوی کولو کار هیڅکله هم پای نه لري. پطروس داسې اخطار ورکړی دی چې : "ځکه بیدار اوسۍ چې . . . بلکه زمونږ د مالک او خلاصوونکي

عیسی مسیح په فضل او علم کې وړاندې شئ . . . "
(دویم پطروس ۳: ۱۷- ۱۸).

په هغو خطونو کې چې پولوس به کلیسا ګانو ته لیکل په دې شان به یې هغوی ته خطاب کولو: "ما د هغه توان په مطابق چې خدای راکړو، د یو پوه ګلکار په شان بنیاد کیښودو او بل پرې ماڼۍ ودانوي، نو هر یو دې خبردار شي چې پرې څنګه ماڼۍ جوړوي" (اول کورنتیان ۳: ۱۰).

په ځینې وختونو کې مسیحیان کوشش کوي چې کلیسا په کبر او خود خواهۍ سره جوړه کړي. دا هغه شیان دي چې پولوس دوی ته لرګي او ګیاه او واښه وایی (اول کورنتیان ۳: ۱۲) د هر یو سړي کار به وآزمائیلي شي.

ایمانداران څنګه کولای شي چې د کلیسا په تقویت کې مرسته وکړي؟ مقدس کتاب د ځینې لارو او طریقو په باره کې مونږ ته وایی. یوه طریقه، دا ده چې په کلیسا کې د سولې او امن د راوستو د پاره د کار کولو په ذریعه لاس ته راځي. "نو بیا دې مونږ د هغو

خبرو طالبان شو په کومو چې صلح او تړون ترقي مومي" (رومیان ۱۴: ۱۹). بله طریقه، تشویقول دي " نو تاسو یو بل ته تسلي ورکړﺉ او د یو بل د ترقۍ سبب جوړ شئ، او بې شکه چې تاسو داسې کوئ هم" (اول تسالونیکیان ۵: ۱۱). یو بله لار عبارت ده له محبت څخه. "د هغه په وسیله د بدن هره یوه حصه یو ځای کیږي او د بدن د خپل هر یو پیوند په مدد قائم وي، چنانچې د بدن هره یوه حصه په ښه شان کار کوي نو ټول بدن پرې وده کوي او په مینه کې ترقي هم مومي" (افسیان ۴: ۱۲). شاید چې د ټولو نه ښه رفتار او کردار د مسیح په شان کیدل وي. "او په هغه کې د ونو په شان بیخ ولرئ او د ماڼۍ په شان په هغه بنیاد ولرئ، او څه رنګ چې تاسو تعلیم اخیستی دی، هم هغه شان په ایمان کې مضبوط اوسئ، او د خدای ډیر شکر کوئ" (کولوسیان ۲: ۷).

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۳- افسیان ۴: ۱۱- ۱۲ مطالعه کړئ او لاندې سوالونو ته جواب ورکړئ:

الف) پولوس په ۱۳ آیت کې کومه مقابله سر ته رسوي؟ ____________________

ب) په دې لوست کې څو ځله د غټوالي تقویت او جوړولو لغاتو سره مخامخ کیږي؟

____________________________

____________________________

ج) مسیح ولې کلیسا ته نعمتونه وربخښي؟

____________________________

____________________________

۴- مونږ د هغه نعمتونو لیست چې په رومیانو ۱۲: ۶- ۷ کې دی کتنه وکړه. نو اوس غواړو چې یو بل لیست هم مطالعه کړو. دا لیست په اول کورنتیانو ۱۲: ۲۸ کې موندلی شئ. د هر هغه نعمت تر خوا

د (ص) علامه وليکئ کوم چې مالک تاسو ته هم در کړي دي:

رسولان ___________________________

پيغمبران __________________________

معلمان ___________________________

معجزه کوونکی ______________________

شفا ورکوونکی ______________________

مرسته کوونکی ______________________

هغه کسان چې د روح القدس په وسيله په مختلفو ژبو کې خبري ________________

________________________________________

۵- په خپله دعا کې د خدای په حضور کې د هغه څه غوښتنه وکړئ چې تاسو د هغه په وسيله د کليسا په جوړولو کې مرسته کولای شئ. د خدای نه وغواړئ چې تاسو ته دا وښايي چې آيا تاسو د کليسا د ودې او پراختيا ممانعت کوئ او که نه؟

راڅی چې د یو بل سره وعده وکړو چې د کلیسا سره به مرسته کوو.

## د کلیسا تقدیس

د "تقدیس" لغت د مقدس لغت پورې اړه لري. د دې لغت معنې دا ده یعنې د خدای د خاطره جدائې. هغه خلک چې پاک شوی دي د خدای د پاره د نورو نه جدا شوی دي. هغوی رابلل شوي دي.

هغوی باید پاک وي ځکه چې خدای پاک دی. (اول پطروس ۱: ۱۲). کلیسا ته یو "پاک کور" هم ویل شوی دی (افسیان ۲: ۲۱). مسیح کلیسا په روح القدس سره مسح کړه (اول یوحنا ۲: ۲۰).

د یو طرف نه، کلیسا په مسیح کې کامله ده او د بل طرف نه کوشش کوي چې کامله شی. تقدیس نه یو ساده کار او تجربه ده او نه کوم رواج دی. دا مسیح دی چې کلیسا دې ته تیاروي. لکه څنګه چې په خطونو کې د افسس کلیسا ته لیکل شوی دي:

"ای خاوندانو! د خپلو ښځو سره مينه کوئ لکه څنګه چې مسيح د جماعت سره مينه کړی ده او خپل ځان ئې د هغه د پاره مرګ ته سپارلی دی، د دې د پاره چې هغه ته د کلام سره په اوبو غسل ورکړی، پاک ئې کړی او مقدس ئې کړی، او داسې د جلال جماعت ساز کړی او ځان ته ئې حاضر کړی، چې په بدن کې ئې نه داغ وی، نه ګنجی، او نه په کې بل داسې څه څيز وی، بلکه پاک او بې عيبه وی" (افسيان **۵**: **۲۵** - **۲۷**).

مقدس کتاب وائې چې هر هغه شی چې مونږ د ګناه نه پاکولای شي بايد هغه عملي کړو. "نو ای خوږو دوستانو! چونکه زمونږ سره داسې وعدې شوی دي نو راځئ چې مونږ خپل ځانونه د هر قسمه جسمانی او روحاني ناپاکيو نه پاک کړو او د خدای د ويرې نه خپل پاکوالی کمال ته ورسوو" (دويم کورنتيان۷: ۱).

دا خدای دی چې مونږ پاکوي. حقيقت دا دی چې که چيرې مونږ د خپل ځان قضاوت وکړو نو د مالک خدای له خوا به محکوم نه شو. په رښتيا سره د پورتنۍ جملې مفهوم دا دې که چيرته مونږ خپل ژوند

و آزمایو او د ګناه څخه ډک عمل د خپل ځان څخه لري کړو او خپل ځان اصلاح کړو، خدای پاک به مونږ د تیرو شوو اعمالو په هکله محکوم نکړی. په اول کورنتیانو ۱۱: ۳۱- ۳۲ کې لولو:

" که چیرې مونږ خپل ځان وآزمیو نو سزا به مو نه موندلي. خو مالک مونږ ته سزا د تربیت د پاره راکوي چې د دنیا نورو خلکو سره مجرمان نه شو."

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۲- د هغو دوو جوابونو څخه کوم چې په قوس کې ورکړ شوي دي ښه ئې انتخاب کړی او په خالي ځای کې ئې ولیکی.

الف) پاکوالی یو ________________ دی.

(رواج) (یو نه شلیدونکې لړی)

ب) څوک ایمانداران پاکوي؟ ____________

________________________________

(يوائې مالک) (هم مالک، هم ايمانداران)

زه يو لور لرم. کله کله صحيح کار نه کوي. زه بايد هغې ته نصيحت وکړم او هغه تنبيه کړم. زه غواړم چې هغې ته هغه څه چې صحيح وي ور زده کړم. دا کار د خدای په هکله هم صحيح دی. د هغه د اولاد په حيث، زه په دې پوهيږم چې هغه ما تنبيه کوی. زه د نصيحت او تنبيه کولو څخه نه خوشحاليږم مګر په دې پوهيږم چې دا کار زما په فايده دي. عبرانيان ۱۲: ۵- ۱۱ مونږ ته وايي: "خو تاسو هغه نصيحت هير کړو کوم چې تاسو ته د فرزندانو په شان په دې ټکو کولای شي: د دې نه علاوه هر کله چې زمونږ جسمانې پلارونو مونږ له تنبيه راکوله او مونږ د هغوی عزت کولو، نو آيا مونږ د خپل روحانې پلار د دې نه زياته تابعداري ونه کړو چې مونږ ژوندی پاتې شو؟ (۹ آيت) " هغوی خو د لږو ورځو د پاره د خپلې پوهې مطابق مونږ له تنبيه کوله، خدای خو زمونږ د فائدې د پاره داسې کوي چې مونږ هم د هغه په پاکيزګی کې شامل شو. " (۱۰ آيت) نو بايد مونږ خپل ځان د خدای تنبيه کولو ته وسپارو.

که چیری په مسیح کې زمونږ خویندی وروڼه کومه غلطي کوي. نو مونږ باید کوشش وکړو چې د هغوی سره مرسته وکړو. مونږ باید د نورو سره هغوی په هکله خبرې ونه کړو مګر په ذاتي توګه د هغوی سره خبرې وکړو. راځئ چې د نورو سره مینه ولرو او دا کوشش وکړو چې د هغوی کردار او رفتار صحیح شي، بلکل هغه شان لکه څنګه چې خدای په خپله زمونږ رفتار او کردار اصلاح کوي.

ځینی وخت خلک د مسیح د قبلولو نه انکار کوی ځکه چې په کلیسا کې ګناه ګوری. باید داسې ونه شي. پولوس په دې هکله د کورنتیانو کلیسا ته د مسیح تعلیم تدریس کړ. (اول کورنتیان **۵**: ۲- ۸. ۱۳ ته دې مراجعه وشی). هر ایماندار دې خپله برخه کوشش وکړي تر څو کلیسا د ګناه نه بچ شی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۷- د هغو دوو جوابونو څخه کوم چې په قوس کې ورکړی شوي دي ښه غوره ئې انتخاب کړئ او په خالي ځای کې ئې ولیکئ.

الف) د شراکت معنی ________________ دی.

(مرسته کول) (پاکول)

ب) د جوړولو معنی____________________ ده.

(پاکول) (تقویه کول)

کلیسا لکه د یوې ناوې په شان د ___________________________ په خاطر

تیاریږي.

(مسیح) (خپلې ښکلا)

د) که چیرې یو ایماندار ګناه وکړه ستاسو کار دی چې ______________________

(یوائې هغه سره خبرې وکړی) (د هغه په هکله د نورو سره خبرې وکړی)

۸- دا سوالونه بیا ولولی او هغه جوابونه کوم چې ۲ ، ۴ سوال ته مو ورکړی فکر وکړی. دا خبره یاد ولری چې مسیح د کلیسا سره مینه وکړه. د خدای نه وغواړی چې هم هغه محبت تاسو ته هم د مسیح بدن د پاره درکړي. نو بیا دا خبره ده چې شراکت، جوړول او مرسته د نورو د پاکولو کار آسانوي.

## خپل جوابونه مقایسه کړی

۸- له دې کار نه وروسته تاسو د راتلونکي لوست د پاره تیار یاست.

۱- امکان لري چې ستاسو لیست زما د لیست سره توپیر ولري، خو زما لیست دا دی: په دعا کې ، په ډوډی کې، په سفر کې، په مرسته کې، په یووالی کې، په تکلیفونو کې.

۱- الف) مرسته

ب) تقويه کول

ج) مسيح

د) يواځې د هغه سره خبرې وکړی

۲- ستاسو خپل جواب

۲- الف) يو روان حالت

ب) هم خدای او هم ايمانداران

۳- الف) د ماشومانو او لويانو تر مينځ مقابله کول

ب) بيا غتېدل او يو ځل تقويه کول او يو ځل جوړول

ج) مرسته وکړی چې لوئې شي

۵- ستاسو خپله دعا

۴- ستاسو ليست بايد د څو ضرب لرونکو علامی ولري.

## اوم لوست

# کلیسا د نړۍ د پاره کوم کار سرته رسوي

په تیرو لوستونو کې مو ولیدل چې ایمانداران د نورو مومنانو په اړوند مسئولیتونه لري. ټول ایمانداران د خدای د کورنۍ یوه برخه ده. مسیحیان په مسیح کې د خپلو خویندو او ورونو سره خاص اړیکې لري.

مګر کلیسا هم د بې ایمانانو په وړاندې مسئولیت او وظیفه لري. یو مسیحی باید دومره د ایماندارانو په فکر کې نشي تر څو چې کوم بې ایمانان د کلیسا نه بهر دي هغوی هیر کړي. په دې لوست کې به مونږ د ایماندارانو هغه وظیفه کومه چې د بې ایمانانو په اړوند یې لري بحث وکړو.

لکه د نورو ټولو لوستونو په شان د هغه څه چې تاسو یې په دې لوست کې زده کوۍ ور څخه کار واخلۍ. مګر هغه څه چې پوهیږو او ترې کار وانخلو د خدای رضایت به حاصل نکړو لکه څنګه چې یعقوب

وویل: "نو بیا که څوک په ښو کولو پوهیږي او نه ئې کوي، د هغه د پاره دا ګناه ده" (یعقوب ۴: ۱۷).

**هغه څه چې تاسو به یې په دې لوست کې ولولۍ**

ایمانداران د شیطان په خلاف دي

ایمانداران انجیل خپروي

ایمانداران خادمان استوي

ایمانداران د خادمانو ساتنه کوي

دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو چې. .

- هغه درې شیان چې باید یو مسیحی یې د بې ایمانانو د پاره سر ته ورسوی نوم ئې واخلۍ

- د زیری ورکولو مفهوم درک کړۍ

- د خپل مسئولیت نه د ورک شوو په باره کې ځان خبر کړۍ

## ایمانداران د شیطان په خلاف دي

آیا تاسو تر اوسه پورې له چا نه پور اخستی دی؟ مونږ کله کله د خلکو نه یوه اندازه پیسی پور اخلو او هغه بیا بیرته نشو ورکولای. مونږ د دغو پیسو د نه ورکولو په مقابل کې مسئولیت لرو. هر یو ایماندار دا شان قرضونه لري. دغه قرض چې زمونږ په غاړه دی څه دی؟ پولوس هغه داسې تشریح کوي: "زۀ د مذهب او د غیر مذهب خلکو، د عالمانو او د عامیانو، د هر چا ذمه وار او احسان مند یم. او ځکه دا غواړم چې تاسو ته چې په روم کې یئ، زیری در رسوم" (رومیان ۱: ۱۳- **۱۵**).

د خدای قوم باید په خپلو هغه عملونو باندې کوم چې د خدای خوښ دي دا کار د خپله ځانه ښکاره کړي. د خدای قوم باید ښه کارونه سر ته ورسوي. عیسی وفرمایل: "تاسو د دنیا مالګه یئ" (متی **۵**: **۱۳**). که چیرې مالګه بې خونده شی او خپل اصلیت د لاس ورکړي نو بیا هغه بې معنې او بې قیمته ده. عیسی هم دا شان وفرمایل: "تاسو د دنیا نور یئ"

(متی **۵**: **۱۴**). مګر یو چراغ باید پټ نه وي باید چې وځلیږي. یو چراغ چې په کوټه کې بلیږي نو باید په کوټه کې په ټولو خلکو باندې نور او رڼا واچوي. "او تاسو هم دغه رنګ د خلکو د وړاندې رڼا خوره کړۍ د دې د پاره چې هر کله چې هغوی ستاسو ښه کارونه ووینې نو هغوی به ستاسو د پلار چې په آسمان کې دی، لوئي بیان کړي" (متي **۵**: **۱۶**).

هر کله چې یو سړی د مسیح پیرو شي نو نوی ژوند شروع کوي. او نور په شیطاني کارونو پسې نه ګرځي کوم چې د هغه مخکې عادت وو. او هغه غواړي هغه کار وکړي چې په کوم خدای رضا کیږي. لکه څنګه چې مالګه د خوړو خوند برابروي او نور تیاره له منځه وړي نو دغه شان د یو مسیحی خدای خوښونکی ژوند هم هر څه چې د هغه په علاقه کې بد او خراب وي د خپل ژوند د ښه اثر لاندې راولي. او هغه دومره تاثیر په هغوی باندې کوي چې هغوی هم د ښو کارونو سر ته رسولو د پاره تشویقوي. نو په هم دې وجه دا په خپله د شیطان په ضد یو قدرت دی.

ما یو ځل د یو ځوان په هکله یو کیسه ولوستله چې د هغه نوم نیک وو. نیک د هر چا څخه نفرت درلود. هغه صرف جنګ او قتل کول زده کړي وو. د هغه دوستانو یوه ډله جوړه کړی وه چې د هغوی کار یوائې غلا کول او خرابول وو. نیک د مخدره موادو په استعمالولو عادت شو. د دې نه مخکې چې هغه د ځوانۍ دورې څخه تیر شي د هغه ژوند ډیر شیطانې وو. خو یوه روځ یو مسیحی د هغه سره د خدای د محبت په باره کې خبرې وکړي او هغه ته یې وویل چې کولای شي په مسیح کې نوی ژوند ولري. نیک په مسیح باندې ایمان راوړو. او هغه ټول خراب کارونه او خراب خلک او قاتلان او غله پریښودل او د دې نه ئې نور ډیر زیات ښه کارونه وکړل. او هغه د هغه خلکو په خدمت کولو کې منډه شروع کړه.چا چې د ده غوندې تکلیفونه درلودل. هغه د هغوی سره د عیسی مسیح په هکله خبرې وکړې. نیک د هغوی سره مرسته وکړه تر څو د مخدره موادو څخه خلاصون حاصل کړي او د نورو خلکو څخه نفرت و نه کړي.

د خدای د فضل په وسیله شیطان د هغه په ژوند کې نابود شو. خو د دې نه هم زیات نیک خپل قدرت په کار واچوه تر څو شیطان چپ کړي. د نیک ژوند په هغه ټولنه کې چې ګناه او تیاره خوره وه د ځلانده رڼا مثال درلود.

ایمانداران کولای شي چې د دعا په وسیله هم د شیطان مخ نیوي وکړي. د ابراهیم وراره لکه څنګه چې ابراهیم د خدای سره مینه کوله هغه شان محبت نه کاوه. البته ابراهیم د خپل وراره په هکله زیات کوشش کاوه. هغه کوشش وکړ چې لوط تشویق کړي تر څو د خدای خدمت وکړي. مګر لوط غوښتل چې په هغه ښار کې ژوند وکړي کوم چې د ده د ګناهونو له خاطره ډیر مشهور شوي وو. ابراهیم د خپل وراره د پاره دعا وکړه. د ابراهیم د دعا په خاطر خدای، لوط ته خلاصون ورکړ خو هغه د شرارت او فساد نه ډک ښار یې نابود کړو. تاسو باید د ابراهیم دعا چې په پیدایښت ۱۸: ۲۲- ۲۳ کې ده مطالعه کړئ.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۱- په خالی ځای کې صحیح لغت ولیکئ:

الف) ایمانداران د ______________ په سر ته رسولو د شیطان سره جنګیږي.

ب) عیسی مسیحیان ________او __________ سره تشبیه کړل.

ج) څه چې د نیک سره وشول د هغې څخه معلومیږي چې مسیحیان کولای شي له __________________ سره وجنګیږي.

د) د ابراهیم د ژوند څخه دا بریښي چې هغه خلک چې د خدای سره مینه کوي باید د هغه خلکو د پاره چې خدای سره مینه نه کوي ______________

## ایمانداران انجیل خپروي

پولوس د دې د پاره چې فیلیپیانو د کلیسا ایمانداران د خپلو کارونو په هکله خبر کړی دي کلیسا ته ئې داسې ولیکل: "چې تاسو بې عیبه او پاک شئ. په بد او بې لارې خلکو کې د خدای د کاملو بچو په شان ژوندون کوئ او د هغوی په مینځ کې د آسمان د ستورو په شان وځلیږئ. او د ژوندون کلام پیش کوئ چې د مسیح په ورځ زه فخر کوم چې نه خو زما منډه بې فایدې شوه او نه زما خوارې بې ځایه لاړه" (فیلیپیان ۲: ۱۵- ۱۶).

پولوس وائي چې دا کار یواځې کافی نه دی چې انسان دې خدای خوښونکی ژوند ولري، مګر د ژوند زیري دې تل خلکو ته اوروي. انجیل یعني زیري باید د عمل وینه دواړو کې عملې شي.

عیسی وویل: "ځکه تاسو په مځکه خواره شئ او ټول قومونه زما مریدان کړئ او د پلار، د زوی او د روح القدس په نامه ورته بپتسمه ورکړئ" (متی ۲۸: ۱۹).

دا زیري، په یوې لوئې دندې باندې نومول شوې دي. مرقوس په دې هکله داسې لیکي: "د تمامې دنیا هرې سیمې ته لاړ شئ او زما د زیري وعظ ټول مخلوق ته وکړئ" (مرقوس ۱۲: ۱۵).

هغه وعظ چې په دې جمله کې راغلې دی دا د کوم رسمي وعظ په معنې د کومې ډلې په مقابله کې نه دی. البته د یو شي د پیژندلو په معنې دی. ټول ایمانداران نه شي کولای چې موعظه وکړي، مګر هر ایماندار کولای شي چې د انجیل څخه خبرې وکړي. اکثره دا شان خبرو ته بشارت یا زیري ورکول هم وائي. دا کلمه د ښه زیري د پیژندلو په باره کې ده. هر ایماندار باید د مسیح د کلام څخه تابعداري وکړي او د انجیل زیري ورکړي، او مریدان جوړ کړي.

لکه څنګه چې مو په تیر لوست کې ولوستل، مالک د خپل بدن څخه، چې کلیسا ده غواړي چې لوی شي. "... داسې هغه د خدای د مرضۍ په مطابق لوئیږي" (کولوسیان ۲: ۱۹). اوله کلیسا هغه کلیسا وه چې به غتیدله. او بیا چې کومو خلکو دا خبرې

قبولې کړي هغوي ته ئې بپتسمه ورکړله او په هغه ورځ تقريبًا درې زره کسان د هغوی سره شامل شول (اعمال ۲: ۴۱). د مسيح بدن لپاره لويوالی يو طبعي امر دی. "هغوی د خدای ثنا وئيله، نو ټول خلک ترې راضې وو او هره ورځ څومره خلکو چې خلاصون موندلو نو مالک د هغوی په ډله کې شاملول (اعمال ۲: ۴۱). هغه کليسا چې نه غټيږي هغه صحتمنده کليسا نه ده.

ستاسو کار

هغه څه چې بايد تاسو يې سر ته ورسوۍ

۲- د هغو دوو جوابونو څخه چې په قوس کې ورکړ شوي دي کوم چې ډير ښه او بهتر دي په خالي ځای کې وليکی.

الف) په متي ۲۸: ۱۹ کې د انجيل خپرولو معنی څۀ ده؟ ______________

(موعظه) (د انجيل پيژندګلو)

ب) د زيري ورکولو کلمه څه مفهوم لري؟

________________________________

(د ښه زیري پیژندنه) (موعظه کول)

ج) هغه کلیسا چې د غړو په اضافه کولو پراختیا نه مومي.

(سالمه کلیسا ده) (سالمه کلیسا نه ده)

۳- د یو لوی کار سر ته رسولو د پاره، تاسو کوم کار سر ته رسوئ؟ څه وخت چې نوي ایمانداران ستاسو ټولګي سره یو ځای شول؟ د هغو خلکو نومونه ولیکئ چې تاسو د هغوی سره د مسیح په هکله خبرې کړیدي. د هر یو د پاره دعا وکړئ او د هر یو سره خبرې وکړې.

________________________________________

________________________________________

په دې لوست باندې بیا غور وکړئ او د کلیسا د دوه کارونو نومونه واخلئ.

________________________________________

________________________________________

## ایمانداران خادمان استوي

کلیسا باید ښه زیری خپور کړي. په متی ۲۸: ۱۹ او مرقوس په ۱۲: ۱۵ کې مونږ د لاړ شۍ د کلمې سره مخامخ کیږو. خو غالباً مسیحیانو ته هدایت کیږي چې مختلفو سیمو ته لاړ شي. انجیل باید هغو خلکو ته وویل شي چې په هغه ځاي کې ایمانداران نه وي. " او د هغه په نامه به ټولو قومونو ته د ګناهونو نه د توبې او د معافۍ وعظ کولای شي. . . " (لوقا ۲۴: ۴۷). (دلته د قومونو څخه مقصد د قبیلو او د خلکو د ټولګیو څخه دی. ) کلیسا ډیره لویه او پراخه وظیفه په غاړه لري. خو خدای د روح القدس په نازلیدو طاقت درکړی شي او تاسو به په بیت المقدس کې او ټوله یهودیه او سامریه کې او د دې نه اخوا د دنیا تر بله سره زما شاهدان یۍ" (اعمال ۱: ۸).

لمړنۍ کلیسا د خلکو منځ ته د خادمانو په لیږلو سره د خپل اطاعت څرګندونه وکړه.

"د انطاکیه په جماعت کې ځیني نبیان او استاذان وو، برنبا او شمعون چې ورته نیجر یعني تور

وائي، او لوکیوس کریني او مناهین چې د هیرودیس حاکم سره یو ځای لوی شوی وو، او ساؤل. هر کله چې هغوی د مالک عبادت کولو او روژه ئې نیوله نو روح القدس ورته وویل، "برنبا او ساول زما د پاره هغه کار له جدا کړی چې د څه د پاره چې ما هغوی رابللی دي" (اعمال ۱۳: ۱- ۳).

دا آیت مونږ ته یو مثال راکوي. په دې هکله به ډیر وضاحت وکړو:

۱- هغه خلک چې واستول شول هغوی د کلیسا په خدمت کولو کې ډیر وفادار وو.

۲- د دې کار تصمیم د ډیرې دعا کولو څخه وروسته ونیول شو.

۳- سړو د خدای دعوت واوریدو او کلیسا هغوی واستول او خادمان د خدای او د کلیسا په وسیله ولیږل شو. کله چې بیرته راغلل نو کلیسا ئې د هر شوي کار نه خبره کړه. " کله چې هغوی راورسیدل او جماعت ئې جمع کړلو، نو د هغه هر څه نه ئې خبر کړل چې خدای د دوی په وسیله کړی وو، او

چې څنګه هغه غیر یهودیانو ته د ایمان د راوړو دروازې خلاصې کړې وې" (اعمال ۱۴: ۲۷).

ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ**

**۵**- صحیح جواب د لاندینو سوالونو لپاره غوره کړۍ، هر کله چې عیسی وفرمایل: "لاړ شۍ او قومونه زما مریدان کړۍ، د هغه دا غرض وو چې:

الف) زما ټولو ګاونډیانو ته لاړ شۍ چې زما سره اوسیږي.

ب) ډیرې لارې غوره کړۍ او انجیل په پردیو ځایونو کې خپور کړۍ.

ج) هغه خلکو ته لاړ شۍ چې ښه زیری ئې نه دی اوریدلي که لرې وي او که نژدې وي.

**۶**- د خادمانو لیږل هغه کار دی چې د ____________________ په وسیله سرته رسیږي.

الف) هغه سړی چې ځي

ب) کلیسا او د هغې رهبران

ج) کلیسا او مالک

## ایمانداران د خادمانو ساتنه کوي

هغه خادمان چې د کلیسا په وسیله لیږل کیږي نو باید د کلیسا په وسیله تقویه هم شي، که چیرې خادمان ولیږل شي او بیا هغوی هیر کړو، دا به غمجنه خبره وي. کلیسا باید د خپلو خادمانو د پاره دعا وکړي. پولوس د رومیانو کلیسا ته داسې ولیکل: "او ای ورونو! زه د عیسی مسیح څوک چې زمونږ مالک دی په وسیله او د روح د محبت په روی تاسو ته دا سوال کوم چې زما د پاره د خدای نه په دعاګانو غوښتو کې ما سره د زړه نه یو شئ" (رومیان **۱۵**: **۳۰**). د کولوسیانو کلیسا ته ئې ولیکل چې : "او ورسره زمونږ د پاره هم دعا کوی، چې خدای مونږ له موقعه راکړي چې د هغه پیغام واوروو چې مونږ د مسیح هغه راز بیانولي شو چې د هغه په سبب هم زه قید کړي شوي

یم" (کولوسیان ۴: ۳). هغه خادمان چې لیږل شوي دي تر اوسه د کلیسا غړي دي او مونږ باید هغوی ته دعا وکړو.

پولوس هم د هغو پیسو په باره کې شکر ګذازی وکړه کومې چې هغه ته لیږل شوې وې (رومیان ۱۵: ۲۴، فیلیپیان ۲: ۲۵، ۴: ۱۵ ته رجوع وکړۍ). هغه خادمان چې بهر ته لیږلي شي، د هغه کار د سر ته رسولو د پاره چې خدای هغوی د هغه د پاره لیږلي دي، پیسو ته ضرورت لري.

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

۷- صحیح جواب غوره کړۍ.

هغه وخت چې خادمان د لمړنۍ کلیسا په وسیله ولیږل شول کلیسا ______________

______________________________________

______________________________________

الف) په نذرونو سره د هغوی څخه دفاع وکړه

ب) د هغوی د پاره ئې خپلو دعاګانو ته دوام ورکړو.

ج) د هغوی په خدمت باندې انتقاد وکړو.

٨- الف) د هغه خادم نوم وليکئ چې ستاسو د کليسا په وسيله ليږل شوي دي ______________________

_________________________________________

ب) آيا تاسو د هغه نه د پيسو او دعا په وسيله دفاع کوئ؟ ______________________

_________________________________________

٩- آيا تاسو داسې ځای پيژنئ چې هلته د مسيح انجيل نه وي اورول شوي؟ د هغه ځای نوم وليکئ.

_________________________________________

عيسی وويل: "فصل ډير دی خو مزدوران کم دي. د دې د پاره تاسو د فصل خاوند ته سوال وکړئ چې د فصل د پاره مزدوران راوليږي" (لوقا ١٠ : ٢).

۱۰- په دې لوست باندې بیا غور وکړۍ او کم تر کمه
درې مسئولیتونه ولیکۍ کوم چې ایمانداران یې
د بې ایمانانو په وړاندې لري.

---

---

## خپل جوابونه مقایسه کړۍ

۱۰- د لاندې دریو جوابونو څخه: د ښه کار کولو په
وسیله شیطان سره مبارزه کول

د بې ایمانانو د پاره دعا کول

د مسیح د انجیل زیري ورکول

د خادمانو نه دفاع کول

۱- الف) د ښه کار د سرته رسولو په وسیله

ب) مالګه او رڼا

ج) ګناه

د) دعا

۹- ستاسو خپل جواب

۲- الف) د انجیل پیژندنه

ب) د ښه زیری پیژندنه او پوهیدل

ج) سالمه کلیسا نه ده

۸- ستاسو خپل جواب

۳- ستاسو خپل جواب

۷- الف) په نذرونو سره ئې د هغوی څخه دفاع وکړه

ب) خپلو دعاګانو ته ئې د هغوی په هکله دوام ورکړ

۴- الف) د ښه کارونو کول او په توده د شیطان هلاک کول.

ب) د مسیح د انجیل زیري ورکول

۲- کلیسا او مالک

۵- ج) هغو خلکو ته لاړ شی چې د انجیل ښه زیري ئې نه وي اوریدلي که نژدې وې او که لرې.

اتم لوست

# هغه څه چې کليسا يې د خدای د پاره سر ته رسوي

په شپږم لوست کې مو ولوستل چې مسيحيان څنګه د مسيح په بدن کې د يو بل سره مرسته کوي. په اوم لوست کې د ځينو مسئوليتونو څخه چې د بې ايمانانو په هکله ئې لرو خبر شو. کليسا بايد هم د ځان او هم د نورو د پاره خدمت وکړي. او همدارنګه بايد په خاص ډول سره خدای ته خدمت هم وکړي.

په اول لوست کې مو زده کړل چې د خدای يو مقصد او هدف د کليسا د آبادولو څخه دا دی چې خپل مالک ته جلال ورکړي؟ د خدای نه د اطاعت کولو په خاطر کليسا کوم کار سرته رسولی شي؟ دا هغه موضوع ګانی دي چې په دې لوست کې به مونږ پرې غور وکړو.

هغه مسيحيان چې پوهيږي چې څنګه دعا کول پکار دي بايد چې خپل ټول علم او پوهه په عمل کې په

دې هکله په کار واچوي. څومره چې دعا ستاسو د پاره د اهمیت وړ وی هم دومره خدمت د خدای د پاره دی. پوهیږی چې تاسو باید عبادت وکړی او عبادت خوښوی خو څینې شیان تاسو مصروفه ساتي.

که چیرې تاسو یو مسیحی یې، نو د مسیح څخه د اطاعت په مزه باندې پوهیږی. هر کله چې اطاعت نه کوی نو په دغه وخت کې په خپل ځان کې د گناه احساس کوی. خپل خدای ته مطیع او صادق اوسی او راځی چې هغه ته احترام او عزت ورکړو.

هغه څه چې تاسو به یې په دې لوست کې ولولی

د عبادت لپاره خاص اعمال

د ایماندارانو بپتسمه

غوره مابنام

دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي تر څو چې.

- عبادت تعریف او تصویر کړی.

- د بپتسمی اهمیت ته وضاحت ورکړی.

- د غوره ماښام په مقصد باندې پوه شی.

## د عبادت لپاره خاص اعمال

په لومړی لوست کې مونږ زده کړل چې د کليسا د اهدافو څخه يو ثنا او صفت او د خدای عبادت دی. مسيحيان د خپل روحاني او خدای خوښونکي ژوند په وسيله خدای ته جلال ورکوي. لکه څنګه چې پولوس د فيليپيانو کليسا ته ووئيل: "او ستاسو ژوند دې د صداقت په ميوه چې د عيسی مسيح په وسيله ده، معمور وي، چې د خدای جلال ښکاره شي او د هغه ستائينه کيږي" (فيليپيان ۱ : ۱۱).

مګر مسيحيان د خپل عبادت په وسيله خدای ته جلال ورکوي. د عبادت څخه مقصد احترام کول، عزت ورکول، او اطاعت کول دي. مونږ په ثنا او صفت سره د هغه د ښه والي په خاطر عبادت کوو. لکه څنګه چې پولوس د افسيانو کليسا ته وليکل چې: "د پاره د دې چې د هغه د فضل د جلال ستائينه وی چې مونږ ته ئې په هغه محبوب کې ويړيا راوبخښه" (افسيان ۱ : ۲). (افسيانو ۱ : ۱۲ ، ۱۴ ولولی).

مقدس کتاب وائي چې ټول ایمانداران د کاهنانو په شان باید د خدای په حضور کې د دعا او تمجید قرباني ورکړي. "تاسو هم د ژوندو کاڼو په شان د خدای روحاني کور جوړ شئ چې د کاهنانو مقدسه فرقه په جوړېدو داسې روحانی قربانۍ پیش کړئ چې د عیسی مسیح په وسیله خدای ته قبولې وي" (اول پطروس ۲: ۵). د کلیسا قرباني دا ده چې د خدای شکر ګذاري او تمجید او عبادت وکړي. "او مونږ دې د مسیح په وسیله همیشه د خدای په ثنا کولو د شکر ګذارۍ قرباني پیش کړو، ځکه کله چې مونږ په خپلې ژبې سره د هغه د نوم اقرار کوو نو دا د خدای د پاره یوه نذرانه ده" (عبرانیان ۱۳: ۱۵).

همدارنګه مونږ د خدای عبادت په حمد وئیلو سره کوو. مقدس کتاب د خدای عبادت د سرود سره په دې هکله ډېر شیان وائي. د زبور ټول کتاب سرودونه او غزلونه دي. یو کس داسې وائي: "د خدای ثنا ووائې او د هغه نوم دې مبارک وي" (زبور ۹۲: ۲). امکان لري کله چې پولوس دا لاندې متن د کولوسیانو کلیسا ته لیکلو دا مضمون ئې په زړه کې ګرځیدلی

وي. "د مسيح کلام دې ستاسو په زړونو کې ډير ځای ومومي، او په خپلو کې يو بل ته تعليم ورکوئ او نصيحت کوئ، او په خپلو زړونو کې د شکر ګزارۍ سره د خدای ثنا، زبور او روحاني سندرې وايئ" (کولوسيان ۳: ۱۶).

مقدس کتاب د ثنا او صفت بله طريقه مونږ ته راښائي: سوغات ورکول. سوغات ورکول هم يو قسم د عبادت طريقه ده. پولوس رسول په خپلو خطونو کې د فيليپيانو د کليسا د تحفو څخه شکر ګزاری کوي. او هغه دې کليسا ته وليکل چې: "زما هر څه شته بلکه زيات دي، خو چې ستاسو راليږلی څيزونه مې د اپفروديتوس د لاسه واخستل نو موړ شوم هغه خوشبوی او قبوله قرباني ده چې خدای ئې خوښوي" (فيليپيان ۴: ۱۸). د مسيحيانو په سوغاتونو باندې هم ځينې ضرورتونه ختميږي. او د دې د پاره چې د خلکو ضرورتونه پوره کيږي نو خلک د خدای حمد او ثنا وائي او د هغه شکر ګذاري کوي. "ولې چې د دې په کولو به نه تش د پاکانو ضرورتونه پوره شي بلکه د

ډیرو خلقو له خوا به د خدای ډیره شکر ګذاري کیږي"
(دویم کورنتیان ۹: ۱۲).

## ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ**

**صحیح جواب انتخاب کړئ.**

۱- عبادت کول یعنې.

الف) پیسې ورکول

ب) د کلیسا سره یو ځای کیدل

ج) احترام کول

د) په خلکو مهربانه کیدل

۲- د کلیسا بنیادي مقصد ____________________
____________________________________ وی.

الف) خدای ته جلال ورکول

ب) ښه ژوند ته د خلکو لارښونه کول

ج) د دعا لپاره د خلکو راجمع کول

د) خدای ته حمد او ثنا ويل

۳- په دې لاندې طريقو کې کومه يوه د خدای د عبادت لار نه ده؟

الف) د خدای د پاره د شکر ګذاري تمجيد او د حمد ويل

ب) د خدای د ښه والي شکر ادا کول

ج) د خدای د کار لپاره سوغات ورکول

د) د خدای د خوښې په خلاف ژوند کول

۴- لاندې جمله مکمله کړی:

مسيحيان د _______________ قرباني ورکوي.

۵- د هغو طريقو ليست تيار کړی په کومو طريقو چې تاسو کولای شي د خدای عبادت وکړی.

_______________________________________

_______________________________________

مونږ بايد دلته ډير فکر وکړو. رښتينی عبادت يوائې سندرې، دعا کول، او سوغات ورکول نه دي. دا د

عبادت خارجي نخښې دي. واقعی عبادت روحانی بڼه لري. مونږ کولای شو چې یو مسیحی مجلس ته لاړ شو مګر په ربنتیا سره د خدای عبادت ونکړو. عیسی وفرمایل: "خدای روح دی او هر څوک چې د هغه عبادت کوی هغه دې هم په روح او په ربنتیا سره د هغه عبادت وکړي" (یوحنا ۴: ۲۴) عبادت کول څه رسم او رواج یا تشریفات نه دي. عبادت کول روحانی کار دی. " ربنتیا ربنتیا درته وایم، تر څو چې سړی بیا پیدا نه شي هغه د خدای بادشاهی لیدلی نه شي" (یوحنا ۳: ۳). مونږ باید هغه عملونه چې عبادت څخه عبارت دي باید د هغه روحاني ربنتینوالي سره یو ځای نه کړو.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۲- د هغو دوو جوابونو څخه چې په قوس کې ورکړ شوي دي صحیح جواب انتخاب کړئ.

الف) رښتینې عبادت ____________________

____________________عبادت دي.

(روحاني) (تشریفاتي)

ب) مسیحیان د ____________________

______ په واسطه د خدای عبادت کوي.

(روح القدس) (جامو، تشریفاتو او رواجونو)

## د ایماندارانو بپتسمه

هر کله چې مونږ خپله مینه د خدای په هکله بیانوو، نو د هغه د رضا کولو د پاره یو کار سر ته رسوو. زمونږ مینه او تمجید کول د تشریفاتو څخه ښه او غوره دي. نو بیا مسیح مونږ ته وویل چې دوه رواجونه باید همیشه په نظر کې ولرو او مراعات ئې کړو. دا دوه

رواجونه چې مسیح مونږ ته د هغه د مراعات کولو حکم راکړی دی، دې ته مذهبی قانون هم ویلی شي. یو له دوی نه چې مونږ به ئې مطالعه کړو او د اوبو بپتسمه ده.

هر کله چې یو شخص په مسیح باندې ایمان راوړي نو هغه دا غواړي چې هر چا ته ووائي چې څه کار یې کړیدي. د اوبو بپتسمه هغه لار ده چې د دې په وسیله کولای شي چې دا خبره ښکاره کړي. په عمومی ډول د کلیسا مشر په یو نهر او یا په یو دریاب کې دا کار سرته رسوي. هغه مسیحیان چې تازه ایمان راوړي په اوبو کې غوټه کیږي او بیا بهر راویستل کیږي. دا د هغه کار تصویر دی کوم چې مسیح د ایماندارانو د پاره سر ته رسولی دی. یو مسیحی د اوبو بپتسمی په وسیله د عیسی په مرګ او بیا ژوندی کیدلو کې شریک کیږي. پولوس دا کار د کولوسیانو کلیسا ته داسې تشریح کوي:

"او تاسو د مسیح سره په بپتسمه کې ښخ شوئ او په هغۀ کې مو د هغه خدای په قوت ایمان راوړو چې

هغه ئې د مړو نه ژوندی کړو، او تاسو هم ورسره ژوندي شوئ" (کولوسیان ۲: ۱۲).

او بپتسمه نورو خلکو ته دا هم ور په ګوته کوی چې زمونږ زوې د ګناه څخه ډک ژوند د خاورو لاندې شو مونږ اوس په مسیح کې نوی ژوندون لرو.

بپتسمه داسې شي نه دی ګڼې چې بې ایمانه خلک به په دې باندې ایماندار شي. د اوبو بپتسمه انسان د ګناه څخه نه خلاصوي او نه د اوبو بپتسمه کومه معجزه ده.

په لمړنۍ کلیسا کې خلکو په مسیح باندې ایمان راوړو او بیا ئې بپتسمه اخیستله. هر کله چې روح القدس په لمړی ځل باندې په کلیسا نازل شو نو پطروس په مسیح باندې ایمان لرلو اهمیت بیان کړ "نو ډیرو په مسیح باندې ایمان رواړو او بپتسمه ئې واخستله." او بیا فیلیپوس د مسیح زیری سامرې ته یوړو. مقدس کتاب وائی: " خو چې هغوی د فیلیپوس په هغه زیري ایمان راوړو چې د خدای په بادشاهۍ او د

عیسی مسیح د نوم په باب کې ئې آورولو نو هغه سړو او ښځو بپتسمه واخستله" (اعمال ۸: ۱۲).

عیسی مونږ ته وائي چې نوو ایمان راوړونکو ته باید بپتسمه ورکړو. "ځکه تاسو په مځکه خوارۀ شئ او ټول قومونه زما مریدان کړئ او د پلار، د زوی او د روح القدس په نامه ورته بپتسمه ورکړئ" (متی ۲۸: ۱۹). زمونږ دنده دا ده چې مونږ هم د هغه نه تابعداري وکړو.

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوئ

۷- رومیان ۶: ۴ ولولئ او خالي ځایونه ډک کړئ. دې بپتسمې سره مونږ له هغه سره ___________ کیږو او د هغه په _________ کې شریک کیږو د دې لپاره، څرنګه چې مسیح د خدای د فیض په واسطه _______ شو نو په همدې اساس مونږ هم
_________________________________________

۸- د لاندې دوه ورکړ شوو جوابونو نه هغه جواب غوره کړي کوم چې ډير ښه دی:

الف) کليسا بپتسمه ورکوي ځکه چې

________________________________

(مسيح هغوی ته حکم ورکړ) (يو مذهبي رواج دی)

ب) څوک بايد بپتسمه واخلي؟

________________________________

(ايمانداران) (بې ايمانان)

ج) بپتسمه ________________________

(خلک مسيحی کوی) (هغه څه چې مسيح سرته ورسول ښکاره کوي)

## غوره مابنام

مسيح کليسا ته حکم ورکړو چې بپتسمه ورکړي. خو هم دا رنګ مسيح مونږ ته حکم وکړ چې غوره مابنام هم مراعت کړو. او په دغه مابنام هغه خپلو مريدانو ته

وويل: "زما په ياد کې هم داسې کوئ" (اول کورنتيان ۱۱: ۲۴).

د بپتسمې په شان، غوره ماښام هم يو حکم دي. دا کومه معجزه نه ده. تش يوائې رواج نه دی. کله چې مونږ د غوره ماښام مراسم په ځای کوو نو مالک ته عزت او احترام ورکوو.

هر کله چې مونږ د غوره ماښام په جلسو کې په ډوډۍ او شربت کې ګډون کوو نو دا په ګوته کوو چې مسيح زمونږ د پاره څه کړي دي. په دې هکله پولوس داسې وويل: "د مالک د مرګ اظهار کوئ" (اول کورنتيان ۱۱: ۲۶). د دې ماښام په وسيله مونږ خپل ځان په مسيح کې يو حسابوو. دا مونږ سره مرسته کوي چې راته ياد وی چې مسيح زمونږ د پاره مړ شو.

"بيا هغه ډوډۍ واخستله، شکر ئې پرې وکړو او ما ته ئې کړه او هغوی له ئې ورکړه او وئې ويل، "دا زما بدن دي چې ستاسو د پاره ورکړی کيږي. زما د يادګار د پاره هم دغسې کوئ. " او هم دغسې ئې ډوډۍ نه پس پيالۍ واخستله او وئې ويل چې "دا

پیالۍ زما په هغه وینه چې ستاسو د پاره تویولي کیږي، نوې لوظ دي" (لوقا ۲۲: ۱۹- ۲۰).

یو کس تر څو چې په مسیح باندې ایمان نه وی راوړی او هغه ئې منلی نه وي، نو باید چې په ډوډۍ او شربت کې شراکت ونه کړي. په دې مراسمو کې مونږ دا نه چې یوازی په مسیح کې کامل کیږو بلکه د یو بل سره هم. غوره مابنام داسې یو شی نه دی چې یو کس هغه په ځانګړې توګه سر ته ورسوي. بلکه یووالی د "مسیح د بدن" اظهار کوي. پولوس وویل:

" هغه د برکت پیاله کومه چې مونږ څښو او د هغې د پاره د خدای شکر کوو، آیا هغه د مسیح د وینې د شراکت نه ده څه؟ او هغه ډوډۍ چې مونږ ئې ماتوو، آیا هغه د مسیح د بدن شراکت نه دی څه؟ مونږ ډیر خو یو، بیا هم لکه څنګه چې یوه ډوډۍ ده، هم دغه شان لکه د یو بدن جوړیږو ځکه چې مونږ ټول په هغه یوې ډوډۍ کې شریکیږو" (اول کورنتیان ۱۰: ۱۲- ۱۷).

غوره مابنام د مسیح په مرګ او د کلیسا په یووالی باندې زمونږ د ایمان اظهار کوونکي دي. او د

دې نه علاوه، دا غوره مابښام زمونږ ایمان د مسیح د بیا راتلو په هکله چې د خپلې کلیسا د پاره راځی، " نو هر کله چې تاسو دا ډوډۍ خورۍ او دا پیاله څښئ نو د مالک د مرګ اظهار کوۍ تر څو چې هغه رانه شي" (اول کورنتیان ۱۱: ۲۶).

ستاسو کار

هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوۍ

۹- کومه لاندې جمله د غوره مابښام د مفهوم برخه نه تشکیلوی؟

الف) د هغه څه تصویر کوم چې مسیح زمونږ د پاره سر ته ورسول.

ب) د مسیح د بیا راتلو په هکله د ایمان بیان.

ج) د خدای څخه د معافي لار.

د) د ایماندارانو د یووالي بیان.

۱۰- تر ټولو مهم دلیل چې مسیحیان مجبوره وی تر څو د غوره مابنام مراسم پر ځای او بپتسمه واخلی، دا دی چې:

الف) دا کار د مسیحیانو د برکت سبب کیږي.

ب) دا کار یو مذهبي رواج دی.

ج) مسیح ئې حکم کړی دی.

د) د مسیح د مرګ بیا اظهار کوي.

کلیسا د مالک د خدمت دنده په غاړه لري. باید چې کلیسا فرمانبرداره وی او مالک ته جلال ورکړي. او دا کار تر هغه پورې دوام کوي تر څو چې مسیح بیا خپلې کلیسا ته راشي. او پس له دې نه به بیا مونږ د هغه سره یو تر هغې ورځې پورې د کلیسا دا وظیفه ده چې ایماندارانو او بې ایمانانو ته دا په ګوته کړی چې د خدای اراده څه ده. او کلیسا ورک شوو ته ګواهي ورکوي او ایمانداران په خپلو کې مضبوط کړي.

لمړنۍ کلیسا دا ټول کارونه کول. کله چې زه اعمال ۲: ۴۲، ۴۷ لولم زړه مې د خپل ځای نه جدا کیږي:

"هغوی به هره ورځ په يو زړۀ د خدای په کور کې راجمع کيدل او په کورونو کې به ئې په شريکه ډوډۍ ماتوله او خپل خوراک به ئې په خوشحالۍ او په صفا زړه سره شريکولو. هغوی د خدای ثنا وئيله، نو ټول خلق ترې راضي وو او هره ورځ څومره خلکو چې خلاصون موندلو نو مالک د هغوی په ډله کې شاملول" (اعمال ۲: ۴۲-۴۷).

آيا کولای شو چې پورتنې متن د خپلې سيمی د کليسا په هکله ذکر کړو؟ او يا ستاسو د سيمې د کليسا په هکله. مالک غواړي چې مونږ د کليسا د مرستې د پاره استعمال کړي. هغه زمونږ څخه دا غواړی چې خپلو ذمه واريو باندې عمل وکړو.

هر مسيحی د کليسا محتاج دی " او د يو بل سره عبادت د پاره جمع کيدو نه منع نه شو لکه څنګه چې د ځنو خلکو دستور دی، بلکه يو بل ته نصيحت وکړو، او هر څومره چې هغه ورځ په رانزدې کيدو وينی، هغه هومره ئې زيات کوی " (عبرانيان ۱۰: ۲۵). کليسا مسيح ته ډير زيات اهميت لري. " . . . .

مسیح د جماعت سره مینه کړي ده او خپل ځان ئې د هغه د پاره مرګ ته سپارلي دی" (افسیان **۵: ۲۵**). راځي چې مونږ خپل مسئولیت د هغه د کلیسا د پاره سرته ورسوو.

آیا تاسو په دې خوشحاله نه یاست چې د هغه د کلیسا یوه برخه یاست؟ نو مونږ اوس د خپلې مطالعې اخر ته رسیدلي یو. امید لرم چې د کلیسا څخه مو ښه مفهوم اخستی وي. دا ډیر مهمه خبره ده چې نورو خلکو ته هم د مسیح په هکله دعوت ورکړی. دا مسئله ډیره د ارزښت وړ ده او هم ستاسو د پاره د خدای د نقشو یوه برخه ده. ولې هم دا اوس نه په زنګنونو کیږئ او د هغه د کلیسا د پاره چې د مسیح بدن دی شکر نه کوئ؟ د خدای نه وغواړی چې هغه تاسو ته هغه لاری دروښایی چې هغوی په وسیله په مالک کې ډیر شرکت وکړئ او د کلیسا د پاره د هغه د نقشې څخه یو برخه اوسئ.

## خپل جوابونه مقایسه کړۍ

۱۰- ج) مسیح حکم کړی دی.

۱- ج) احترام ورکول.

۹- ج) د خدای نه معافی د پاره لار.

۲- الف) خدای ته جلال ورکول

۸- الف) مسیح هغه ته حکم ورکړ.

ب) ایمانداران

ج) هغه څه چې مسیح وکړل څرګندوی

۳- د خدای د خوښې په خلاف طریقو باندې ژوند کول.

۷- ښخول

د مړو نه ژوندی شو

نوې ژوند شروع کړو

۴- شکرګذاری- عبادت

۲- الف) روحاني

ب) روح القدس

## ۵- د خدای د خوښۍ سره سم ژوند کول

د خدای ثنا صفت بيانول

دعا

سرود

نذرونه ورکول